احتمال هرنوع نزاع وکشمکش برسر انتخاب امیر پس از رحلتش از میان خواهد رفت ولی او علیه‌السلام که معلم بشریت است وهر حرف و حرکتش ، رهنمود ودلسوزی برای امت و اسوه و قدوه برای همه انسانیت است بدون آنکه کسی را جانشین خود تعین کند و یا سفارش و توصیه درباره کسی بعمل آرد رحلت می کند وکار انتخاب امیر را به امت میگذارد ـ

متصل رحلت پیامبر اکرم (ع) وقبل ازآنکه کار تدفین جسد مبارکش به پایان برسد ـ اصحابش ، اجتماع نموده تصمیم می گیرند تا اهمترین واجب اجتماعی شانرا که انتخاب امیر است و پیامبر گرامی شان برآن تأکید کرده است ادا کنند وقبل از ادای مراسم تجهیز وتدفین امیر شانرا انتخاب نمایند . دراجتماع مذکور ، کسی از جملهٔ انصار اظهار میدارد که باید امیر از جمله انصار باشد دیگری از میان مهاجرین پیشنهاد می کند که لازم است امیر از زمرهٔ مهاجرین باشد صحابی دیگری طرح دو امیررا که یکی از مهاجرین ودیگری از انصار باشد تقدیم میکند یک دیگر از اعضای مجلس پیشنهاد می کنند که بهتراست امیر از جملهٔ مهاجرین و وزیر از انصار تعین شود ـ حضرت ابوبکر صدیق (رض) درپایان سخنرانی مبسوطش وارائه دلائل کافی امارت حضرت عمر (رض) را اپیشنهاد می کند ولی حضرت عمر (رض) حضرت ابوبکر صدیق (رض) ر انسبت به همه افضل واحق شمرده جلو می آید و دست راستش را بمنظور بیعت بسوی ابوبکر صدیق (رض) دراز می کند وبا او بیعت می نماید ، دیگران نیز بارای حضرت عمر (رض) توافق نموده بدینترتیب بر امارت حضرت ابوبکر صدیق (رض) دراجتماع مذکور اتفاق رأی صورت می گیرد ولی تا هنوز کاربه پایان نرسیده است باید امیری که طی اجتماع مذکور انتخاب شده است د ربرابر عامهٔ اهالی پایتخت کشورمسلمانان بپاایستد سیاست حکومتش را ارائه دارد ومردم با طیب خاطر وپس از قناعت کامل به او بیعت کنند تا امارت او مسلم گردد ـ

این جریان ـ مطالب مهم آتی را افاده می کند :

١ـ پیامبر (ع) درباره هیچ یکی ازیاران واصحابش توصیه وسفارشی نکرده بود تا جانشین او وامیر مسلمانان تعین گردد زیرا ممکن نبود باوجود توصیه وسفارش پیامبر (ع) اصحاب او در باره انتخاب امیر به مناقشه پردازند . و آراء ونظریات مختلفی درین رابطه ارائه کنند زیرا قرآنی که بآن ایمان داشتند این درس ر ابه آنان داده بود که :

(ماکان لمومن ولامومنة اذا قضی الله ورسوله امراً ان یکون لهم الخیرة من امرهم .

مرد وزن مومن نمی سرد که چون خدا و پیامبرش کاری را فیصله کنند (درباره امری از امور فیصله صادر کنند) ایشان را در آن کارشان اختیاری باشد (پس از آن اختیار از آنان سلب میشود ومکلف اند چار وناچار ازآن اطاعت کنند)

١ـ انتخاب امیر حق امت ویکی از اهمترین واجب مسلمانان است که باید بدون تاخیر و درنگ شایسته ترین فرد شانرا بحیث امیر انتخاب کنند . قرآن درین رابطه می فرماید :

(ان الله یأمرکم ان تؤدوالامنت الی اهلها)

بدون شك خداوند (ج) بشما امرمی کند که امانت ها را به اهلش بسپارید . به اتفاق همه مفسرین مراد از امانت درین آیه ، منصب امارت وامامت است .

این آیه نشان میدهد که :

تفویض منصب امارت وامامت به اهلش تکلیف شرعی و الهی همه امت است زیرا خداوند (ج) بهمهٔ امت باصیغه (یأمرکم)امرمی کند تا امانت مذکوررا به اهلش بسپارند اگر انتخاب امیر وامام به مرجع دیگری جزامت مربوط می بود نباید مجموع امت به آن مامور می شد. تشخیص اهل این منصب نیز تکلیف شرعی امت میباشد . اگر امارت و امامت چون مال ومتاع شخصی از پدری به فرزندی به میراث می ماند. نباید این واجب شرعی به امت راجع می گردید که اهل این منصب را تشخیص داده وامانت مذکور را بوی بسپارید .

٢ـ چگونگی اظهار رای د رزمینه انتخاب امیر مربوط به صوابدید امت است تا باتوجه به ظروف وشرائط خاص شان (که از مرحلهٔ دیگری فرق می

کند) بهترین و آسانترین راه را اختیار کنند چنانچه چهار امیر نخستین اسلام – از راه چهار طریقه متفاوت ازهم انتخاب شدند – اگر درین خصوص طریقه ثابت ومعین از قبل تعین شدهٔ وجود میداشت هرگز اصحاب پیامبر (ع) طرق متفاوت ازهم را برای انتخاب چهار خلیفهٔ وامام نخستین اسلام اختیار نمی کردند .

چنانچه ابوبکر صدیق (رض) طی جلسه عام اظهار رأی معین بحیث امیر انتخاب شد . ولی انتخاب خلیفه دوم بشکل کاملاً متفاوت از طریقهٔ مذکور صورت گرفت به نحوی که امیر برحال قبل از وفاتش بطور سری بااهل الرای مدینه منوره دربارهٔ تعین حضرت عمر (رض) بحیث جانشین وی استمزاج نموده اکثریت را بارأی خود موافق یافت وکسانی که ملاحظاتی داشتند باشنیدن دلائل وی قناعت شان حاصل گردیده وباپیشنهادش توافق نمودندوبه این ترتیب پس از وفات خلیفه اول بحیث خلیفه مسلمانان تعین گردید .

انتخاب سومین خلیفهٔ اسلام حضرت عثمان (رض) به شکل دیگری صورت گرفت به نحوی که امیر برحال حضرت عمر (رض) بدست انسان شقی وقسی القلبی جراحت برداشت ، وفهمید که بزودی امانت روح را به پروردگارش تسلیم خواهد کرد ، مردم نزد او آمده باتاکید واصرار از او خواستند تا کسی را بحیث امیر بعدی مسلمانان انتخاب کند او در جواب گفت : اگر من بدون انتخاب جانشین وفات کنم به سنت کسی عمل کرده ام که نسبت بمن افضل بود (مرادش پیامبر(ع) بود که بدون انتصاب کسی به پست امارت رحلت کرد واگر قبل از وفاتم کسی را به حیث امیر مسلمانان تعین کنم به سنت کسی عمل کرده ام که او نیز نسبت به من بهتر بود (منظورش ابوبکر صدیق (رض) بود) او ترجیح میداد تا بدون تعین جانشین دنیارا ترک بگوید وکار انتخاب امیر را بخود امت بگذارد. ولی بدلیل اصرار مردم واستدلال شان مبنی بر اینکه مبادا پس از وفات خلیفه – فتنه برسر تعین امیر بر پا نشود از تصمیمش منصرف گردیده راه وسط میان دوطریقه سابقه رااختیار نموده شش نفر را نام برد تایکی از پنج نفر شامل این گروپ به استثنای پسرش حضرت عبدالله بن عمر (رض) را درظرف سه روز پس از وفات وی بحیث امیر انتخاب کنند – شش نفر صحابی مذکور به بحث می نشینند سه نفر آنان به نفع حضرت عثمان – حضرت علی وحضرت عبدالرحمن بن عوف (رض) رای میدهند سپس حضرت عبدالرحمن بن عوف (رض) ازین حق مستعفی میشود واختیار فیصله میان حضرت عثمان (رض) وحضرت علی کرم الله وجهه بوی سپرده میشود . او سه شبانه روز بطور مسلسل وخستگی ناپذیر به نحوی که می گویند جز لحظات معدودی بخواب نرفت به استمزاج از اهالی مدینه منوره پرداخت بهر جائی که برایش ممکن بود میرفت واز هر کی برایش میسر بود می پرسید تاببیند چه کسی مورد تأیید بیشتر مردم است واکثریت اهل مدینه به کدام یکی ازاین دو اصحابی جلیل القدر رأی میدهند تا او را بصفت امیر مسلمانان اعلان کند بالاخره دریافت که اکثریت مردم مدینه امارت عثمان (رض) را ترجیح میدهند بناءً درجلسهٔ که هردو کاندید حاضر است پس از آنکه مکرراً از آنان تعهد گرفت که فیصله اش را بدون چون وچرا می پذیرند نتیجه رای گیری سری اش را اعلان می کند وبه این ترتیب حضرت عثمان (رض) بصفت خلیفه مسلمانان تعین می گردد .

پس از آنکه حضرت عثمان (رض) بدست عدهٔ از شورشگران به شهادت میرسد عدهٔ از مردم مدینهٔ منوره بخانهٔ حضرت علی کرم الله وجهه میروند تا باوی بیعت کنند ولی او چنین بیعت سری وخصوصی را نپذیرفته اظهار میدارند که تعین امیر و بیعت با او باید در محضر عام وبطور علنی صورت گیرد بالآخره چهارمین خلیفهٔ مسلمانان نیز در اجتماع عام وعلنی انتخاب گردید .

از جریانات فوق الذکر علاوه برنتائیجی که قبلاً به آن اشاره شد مفاهیم آتی استنباط می گردد :

۱– امیر برحال میتواند کسی را نامزد کند ولی امارت زمانی مسلم می گردد که مردم با او بیعت کنند .

۲– اگرمسلمانان بامعضلهٔ انتخاب یك یا چند امیر

روبرو شدندمیتوانند به رأی گیری متوسل شوند هر کی را که از تأیید اکثریت برخوردار بودبحیث امیر بپذیرند .

۲ـ برای آنکه امارت کسی مسلم گردد توافق عام و سرتاسری لازم وضروری نبوده تأیید اکثریت کفایت می کند چنانچه عدم بیعت عدهٔ محدودی برای مدتی باابوبکر صدیق (رض) امارت او را خدشه دارنساخت .

٤ـ بیعت خصوصی و سری وتوسط عدهٔ محدودی مدار اعتبار نمیباشد .

٥ـ چنانچه رأی گیری سری وشفاهی توسط یك شخص جائز است ودر تاریخ اسلام نمونهٔ واضح وروشنی برای آن وجود دارد رأی گیری سری ، تحریری وتوسط چند نفر نیز مانع واشکالی ندارد .

هرچند طریقهٔ اظهار رأی در بارهٔ امیر ـ ثابت نبوده وبه صوابدید مسلمانان گذاشته شده است.ولی درین زمینه اصولی ثابت ومحددی نیز وجود دارد که لازم است در هر نوع ظروف وشرائط مراعات گرددامت وائمه هردو بمراعات آن مکلف اند که مانمونه هایی از آنرا توضیح میدهیم .

۱ـ احدی حق ندارد برای رسیدن به قدرت تپ وتلاش ورزیده بمبارزات ناجائز انتخاباتی متوسل شود

۲ـ اگر اجتماع مسلمانان دارای امیر جائز وشرعی است که اکثریت بر او مجتمع ومتفق‌اند اما دیگری می آید و در امارت بااو به نزاع می پردازد وبدین ترتیب شیرازهٔ وحدت مسلمانان را متلاشی میسازد باید با شخص دومی تاسرحد توسل به سلاح مقابله کرد .

۳ـ ترشیح ونامزدی امیر از هرطریقی که انجام یابد لازم است متصل آن بیعت عام ومعلن صورت گیرد

رأی دهی به امیر وبیعت باوی باید بحکم ایمان وباتوجه به اهلیت وکفایت امیر باشد نه براساس رفاقت ، قرابت ـ مال ومنصب ویاغرض دیگر دنیوی،پیامبر (ع) می فرماید هرکسی باامیری بخاطر غرض دنیوی بیعت کرد در روز قیامت درزمره کسانی د ربرابر خداوند می ایستد که وی ج) با آنان تکلم نمی کند به نظر رحمت سوی شان نمی نگرد ـ آنانرا از گناه تزکیه نمی کند وبرای شان عذاب دردناك است . باتوجه بهمهٔ این مطالب است که ما برای حل مشکل افغانستان وتشکیل شورای مقتدر وانتخاب امیر واحد برای ملت خود طرح انتخابات را پیشنهاد می کنیم . تا ازین طریق ـ جلو درگیری ها ی مسلحانه برای کسب قدرت سد گردد ـ امکان حکومت های کودتائی برای همیش منتفی شود . و خاندان وقبیلهٔ معینی از راه سازش ها برملت مسلط نگردد و احدی از راه اعمال قوه فکر رسیدن به قدرت را در سر نپرورانند .واگر امیری پس از رسیدن به قدرت بیراهه رفت وانحراف وکجروی هایش بجایی رسید که دیگر قابل عزل است عزل او منتج به درگیری های خونین نشودوملت مجبور نباشد تاراه سکوت دربرابر حکام جابر وظالم را اختیار نماید یا بار دیگری سلاح بردارد وطریق قیام مسلحانه برای عزل آنانرا انتخاب نماید،بلکه شوری مقتدر نمایندهٔ ملت با صلاحیت عزل حکام را داشته عزل ونصب حکام ازطریق آرام ومسالمت آمیزی صورت گیرد.

باید متوجه بود که ما بامشکل تعدد احزاب مواجه هستیم هرحزب گمان می کند که برای رهبری ملت و تأسیس حکومت اسلامی در افغانستان استعداد واخلاص بیشتری دارد و نفوذ ومحبوبیتش میان مردم اگر نسبت به دیگران بیشتر نیست کمتر نخواهد بود حاضر نیست قضاوت احزاب دیگر را در باره حیثیت واعتبار خود میان مردم بپذیرد .

و به رول و نقشی که در حکومت آینده به وی داده میشو د قناعت کند برای هر یکی حکومت جداگانه نیز نمیتوان ساخت ، پس برای تشکیل حکومت واحد ودر رأس آن زعیم واحدی چه چاره‌یجز توسل به انتخابات ومراجعه به آراء مردم داریم ؟

در شرایطی که رؤسای احزاب حاضر نیستند از موقف شان تنازل نمایند وحزب مربوطهٔ شانرا در صالح ترین حزب مدغم کنند وبدست مستعد ترین امیر بیعت نمایند ـ و اگر به این کار حاضر میبودند نباید احزاب جداگانه برای خود درست می کردند .

تشکیل شوری براساس تساوی وتقسیم پست های حکومت بطور مساویانه میان احزاب عملی است که نمیتوان نمونه د رتاریخ اسلام برای آن سراغ گیرد وتجارب متعدد مانیز نشان داد که چنین کاری راه حلی برای مشکل ما نمی باشد .

و از طریق لویه جرگه وشورای اهل حل وعقد نیز نمیتوان مشکل مذکور را حل کرد .

پس راه حل واحد تأسیس شورای مقتدر وتعین رئیس حکومت ـ مراجعه به آراء مردم واجرای انتخابات است مراجعه به آراء مردم و انتخابات دوصورت میتواند داشته باشد :

الف : انتخاب مستقیم به نحوی که مردم بیکی از افرادی که برای امارت مناسب تشخیص داده اند مستقیماً رأی میدهند وهرکی اکثریت آرا ء را کسب کرد بحیث امیر پذیرفته میشود .

ب: انتخاب غیر مستقیم به نحوی که نخست شوری منتخبی تأسیس می گردد سپس شورای منتخب مذکور کسی را از میان اعضای خویش بااکثریت آراء بحیث امیر انتخاب می کنند تأسیس شورای منتخب نیز دوصورت دارد :

۱ـ از هرحوزهٔ انتخاباتی ـ کاندیدی که اکثریت آراء را کسب کرده است بحیث نمایندهٔ حوزهٔ مذکور به شورای منتخب اعزام می گردد .

۲ـ در حوزه های انتخاباتی بجای آنکه رأی به کاندید های مشخص داده شود به احزاب رای داده میشود بعد هر حزب به تناسب آرای که کسب کرده است نمایندگانی به شوری منتخب معرفی می کند .شکل اول تاسیس شوری منتخب دارای چند نقیصه اساسی است ـ

الف : تنافس ورقابت میان کاندید های متعدد منتج به درگیری هاء خرید وفروش آراء وجعل کاریها گردیده کسانی که درتحمیق مردم ماهر اند و برای خریدن آراء مردم امکانات بیشتری دارند اکثریت را حاصل نموده پس از احراز عضویت شوری،ناگزیر راهای جبران سارا که در جریان انتخابات متحمل شده اند جستجونمایند ، از عضویت شوری استفاده سوء نموده سلسلهٔ رشوت وخرید وفروش آراء د رشورای منتخب نیز ادامه می یابد .

ب : درهر حوزهٔ انتخاباتی کسانی که به کاندید ناکام رأی داده اند ـ از حق تمثیل در شورای منتخب محروم میشوند . به این ترتیب درمجموع کشور تعداد بزرگی از مردم از حق تمثیل در شوری محروم میگردند مخصوصاً اگر قضیه چنان باشد که از مجموع کاندید ها کسی کامیاب شمرده شود که بیشترین آراء را اکسب کرده است درینصورت شاید تعداد آراء کاندید های ناکام درمجموع بیشتراز کاندید های کامیاب باشد ـ اگر این تعداد را باتعداد کسانی که اساساً در رای دهی اشتراك نمی کنند جمع کنیم بطور مسلم اکثریت ملت را تشکیل خواهد داد وبناءً شورای مذکور شورای ممثل اقلیت خواهد بود .

در انتخابات به اساس نمایندگی متناسب که درآن رائی به احزاب داده میشود ـهیچ رائی بهدر نمیرود ودر ارسال نماینده به شوری بی اثر نمی ماند همچنان درین نوع رأی گیری ـ جلو تنافس و مسابقات انتخاباتی ودرگیری ها ی ناشی ازآن گرفته میشود ، زیرا رأی به کاندید های حریف و رقیب نه بلکه به هئیت های اجتماعی احزاب ، تنظیم وبرنامه هایش داده میشود وهر حزبی که سابقه اش خوب تر است بهتر میتواند برای ملت خدمت کند ، شایستگی و استعداد اداری وتنظیمی اش بیشتر است وبیشترین تعداد افراد صالح درآن جمع شده است اکثریت آراء راکسب می کند ، مصلحت دیگری که براین نوع انتخابات مرتب می گردد آنست که یکبار رای گیری کافیست تا هم نماینده شوری مرکزی ازهر حوزه انتخاباتی را تعین کرد وهم شوری های محلی برای هر حوزه را تشکیل داد . زیرا هر حزبی که اکثریت آراءدر یك حوزه را کسب کرد ـ نماینده حوزه مذکور درشورای مرکزی را معرفی می کند و همچنان ـ هرحزب به تناسب آرائیکه حاصل کرده است نمایندگانی به شورای محلی معرفی می نماید بناءً به ا نتخابات مکرر ـ ضرورتی نمی افتد .

و برای آنکه افراد نااهل به شوری راه نیابند واحزاب نتوانند نمایندگان غیر مستحق وغیراهل الرای به شوری بفرستند ـ میتوان هئیت باصلاحیت

را غرض تزکیهٔ افرادی که ازطرف احزاب معرفی میشوند توظیف کرد ـ این مصلحت بزرگ نیز در طریقهٔ معمول انتخابات آزاد که بهر کسی اجازه میدهد خود را کاندید کند ویا توسل بهر وسیله وحربه ای اکثریت آراء راحاصل وبه شوری راه بیابد تامین نمی گردد تنها از طریق انتخابات براساس نمایندگی مناسب میتوان جلو نفوذ افراد ناصالح به شورای منتخب راگرفت این نوع انتخابات در واقع نشان میدهد که هر حزبی از چند در صد ملت وکالت ونمایندگی نموده و تنظیم برنامه ها ـ اداره وقیادتش مورد تأیید چند فیصد ملت است تاباتوجه به آن ، فیصدی نمایندگان هرحزب در شوری تثبیت گردد ومدعی امتیازات بیشتر نشوند عدم قناعت برحق جائز وحرص برای کسب امتیازات بیشتر است که مانع توافق میان احزاب وتشکیل شوری موثر ومقتدر می گردد .

کسانیکه با انتخابات مخالفت می ورزند ودر جهت تشکیل شوری مقتدر و تعین امیر منتخب موانع ایجاد می کنند مسئولیت حوادث دردناك آینده را بعهده خواهند داشت . ماصرف دو راه/برای تأسیس حکومت آینده کشور درپیش داریم : راه مراجعه به آراء مردم وتشکیل شورای منتخب تاسیس حکومت آینده از اینطریق و راه درگیری های مسلحانه وغصب اقتدار از راه اعمال قوه وتوسل به جنگ .مانمی خواهیم ، یك قطره خون ـ در مسابقات ناجائزکسب قدرت بزمین بریزد او چنین کاری در برابر خدا ودربرابر ملت اظهار برائت می کنیم وبهمین خاطر است که برانتخابات اصرار می ورزیم ومکرراً اعلان می کنیم که حکومت کسانی را که مورد تأیید اکثریت ملت باشند می پذیریم وهرگز دربرابر چنین حکومتی متوسل به اقدام مسلحانه نخواهیم شد .

مانسبت به تشخیص ملت خود اعتماد کامل داریم ملتی که بخاطر اسلام ده سال مکمل رادر آتش وخون گذشتاند ۱،۲ ملیون شهید داد وهمهٔ کشورش ویران گردید وبخون شهداء سرخ شد هرگز بچیزی کمتر از اسلام راضی نخواهد شد . پس ازین ملت ما ملت شهید پرور مجاهد ومهاجریاست که به کسی دیگری جز مسلمانی که از تعهدش نسبت به اسلام مطمئن است رای نخواهد داد ـ او دوست ودشمنش راشناخته است ودر مدرسهٔ جهاد وهجرت به نحوی تربیه شده است که مخلص رااز منافق بخوبی میتواند تفکیك کند .

کسانیکه از قضاوت ملت خو دبیم دارند ونمیتوانند برملت خود اعتماد کنند واز انتخابات بابهانه های گوناگونی فرار می کنند مسئولیت حوادث بعدی رابدوش خواهند کشید .

حقیقت امر این است که پس ازین ملت ما نه حکومت تحمیلی اقلیت ها را از هر قماشی که باشد نمی پذیرد. کسیکه برای آزادی کشور وتاسیس حکومت اسلامی ده سال بجنگد این حق مسلمش را نیز بدست خواهد آورد تا در باره حکومت آینده کشورش که برای آن این همه قربانی ها راتقدیم کرده است واین همه دشواری های جانکاه وجانفرسا را تحمل نموده است اظهار رای کند .

اقناع مردم ـ اداره وکنترول افغانستان وجلو گیری از درگیری های مسلحانه برای کسب قدرت جز از طریق تأسیس حکومت منتخب میسر نمی باشد ، انشاءالله چنین حکومتی تأسیس خواهد شد واین ارمان بزرگ ملت ما تحقق خواهد یافت .

وما توفیقی الا بالله علیه توکلت و الیه انیب.

دحزب اسلامی افغانستان دمجاهد امیر ورور حکمتیار دهغی وینا متن یوه برخه چی دکندهار له جهادی سفر وروسته یی په کویټه کی یوی درنی غوندی ته واوروله :

اداره



ورونو ! ما کندهار ته په دی خاطر سفر وکړ چی تاسی به اطلاع لری چی دلته یوه افواه خوره شوی وه. داسی چی د کندهار والی غواړی چی له ځینو تش په نامه قوماندانانو سره د تفاهم په نتیجه کی داسی کار وکړی چی له یوی خوا دمجاهدینو ترمنځ اختلاف را پیدا کړی اوله بلی خوا ددغوتش په نامه مجاهدینو په وسیله د کندهار له ښارنه دفاع او حمایه وکړی.

روس اوس په افغانستان کی ماتی خوړلی. روسان په دی پوهیږی چی د روسی پوځونو له وتلونه پس د کابل رژیم د مجاهدینو په وړاندی نشی تم کیدلای. خپله روسان پردی باندی اعتراف کوی چی زمونږ د پوځونو دوتلو نه بعد دنجیب حکومت نه شی کولای د مجاهدینو په وړاندی تم شی، په دی خاطر هغوی اوس کوښښ کوی چی څنګه کولای شی چی د مجاهدینو ترمنځ اختلاف را پیدا کړی ، څنګه په افغانستان کی دمجاهدینو مجاهدینو په لاس د یو اسلامی حکومت له راتلونه مخنیوی وکړی. ددی لپاره هغوی خپل والی په کندهار کی مکلف کړ چی له ځینو مجاهدینو سره خبری وکړی، هغوی ته دغه تمه ورکړی چی اکه دوی په جنګ کی برخه وانخلی او د کندهار په ښار د حملی په کارکی شریک نشی، نو کیدای شی چی د کندهار والی له خپل تول پوځ او ملیشی سره هغوی ته تسلیم شی او په دی ترتیب هلته دهغوی حکومت اعلان شی. بیابه هغوی په کندهار ښارکی د خپلی خوښی لویه جرګه را غونډه وی .

زه ولاړم کندهار ته ترڅوله مجاهدینو سره خبری وکړم او د دښمن دغه لویه توطئه شنډه کړم، پرینږدم چی دښمن موفق شی چی د مجاهدینو ترمنځ اختلاف را پیدا کړی. سبالـه مجاهدین د یو بل پرخلاف و دروی او دهغوی ترمنځ د وینو توئیدو سلسله پیل شی .

لله الحمد ما د کندهار له زړورو او با ایمانه مجاهدینو او قوماندانانو سره له نږدی وکتل هغوي له ما سره په څو خبرو تعهد وکړ چی مونږ به ترهغه وخته خپل اسلامی جهاد ته په همدی موجوده شکل ادامه ورکوو ترڅو په افغانستان کی د مجاهدینو په لاس اسلامی حکومت جوړشی. ترڅو چی په افغانستان کی د دمجاهدینو په لاس اسلامی حکومت نه وی قائم شوی، مونږ به خپله وسله په ځمکه نه ږدو او له خپلو خندقونو او مورچونه

به نه پورته کیږو.

همداراز د کندهار مجاهدینو له ما سره په دی خبره یې تعهد وکړ، چې مونږ له دینه پس لویه جرگه نه غواړو. لکه د نجیب لویه جرگه چې موونه منله د روس په خوښه او د مسکوپه اشاره هم لویه جرگه نه منو، له دینه پس به د انتخاباتو په نتیجه کې زمونږ د ملت په خوښه اسلامی حکومت جوړیږی. چې لدی لاری اسلامی حکومت نه وی جوړ شوی. مونږ بل راز حکومت نه منو، هغوی له ما سره په دغه خبره تعهد وکړ، چې انشاء الله له دینه پس به مونږ نه کودتائی حکومتونه منو، چې پنځه صاحبمنصبان دی له یوی فرقی نه څه ټانکونه‌را وباسی، د ریاست جمهوری قصردی محاصره کړی، رادیو دی ونیسی او بیادی له هغی‌لاری نه اعلان وکړی چې انقلاب وشو یو حکومت نسکور شو او بل حکومت یې پرځای را منځ شو. له دینه پس به مونږ دغسی کودتائی حکومتونه نه منو، داسی کودتائی حکومتونو ته به موقع هم نه ورکوو. انشاء الله تردی وروسته نور کودتاگانی نشی کیدلای، دکودتاگانو له لاری نه څوک قدرت ته نشی رسیدلای. همداراز له دینه پس مونږ خاندانی حکومتونه نه منو، چې د یو ټبر حکومت دی له پلار نه لمسی ته په میراث پاتی شی. که په کورکی نارینه نه وو پاتی نو لور ته دی پاچاهی په میراث پاتی شی. له دی وروسته دغسی خاندانی حکومتونه هم مونږ نه منو. په دی خبره هم د کندهار مجاهدینو له ما سره تعهد کړی. له دی وروسته به د مجاهدینو او مهاجرینو په خوښه اسلامی‌حکومت جوړیږی. دهغه چا په لاس چې په دی جهاد کې یې برخه اخیستی، ملت ته یې امتحان ورکړی، کفایت او اهلیت لری او ملت یې په خپله خوښه انتخابوی او وربانندی اعتماد کوی. په دی خبره هم د کندهار مجاهدینو له ما سره تعهد کړی،

ورونو! زه اوس له‌کندهار ولایت نه دومره داده اومطمئن یم، چې د بل هیڅ ولایت په نسبت دومره داډ او اطمینان نلرم. د کندهار مجاهدینو چې کومه قربانی ورکړی دغه قربانی پرته له ایمان نه نه شی کیدلای، لویشت لویشت کندهار وران شوی، یواځې په دی څو ورځوکی چې زه هلته وم موږ د پنځلسو په شاوخوا کې زخمیان لیدلې چې بندوبست ورته شوی او پاکستان ته مو د تداوی لپاره رالیږلی، د کندهار ښارهر ټبر اوکورنی له یوه نه زیات شهیدان ورکړی.

زه هغه بله ورځ د پنجپای کمپ ته تللی وم. د کنفرانس نه بعد می غوښتل چې د شهید تورن عبدالحی د فاتحی لپاره دهغوی کورته ورشم، په لاره کې زمونږ راهنما لاره غلطه کړه. بلی کوڅی ته داخل شو، هلته مو پوښتنه وکړه چې د شهید تورن عبدالحی کورچیرته دی؟ هغوی مونږ راهنمائی کړو او بالاخره د یو کور دروازی ته ودریدلو. ماشوم ئې راووته، پوښتنه مو تری وکړه چې د شهید تورن عبدالحی کور دلته ده؟ وې ویل هو! دا د شهید تورن صاحب عبدالحی کور دی اوزه دهغه زوی یم. ورور یې راووتلو. مونږ ورته وویل چې داد شهید تورن صاحب عبدالحی کوردی ویل یې هو! دا د شهید تورن صاحب عبدالحی کور دی خود لته یو بل شهید تورن عبدالحی هم شته، دهغو کور بل ځای دی، اوس له دینه سړی اندازه لگولای شی، چې په دی یوه کمپ په دووکوڅوکی د یوی رتبی او یوه نامه دوه شهیدان ولرو، مونږ څومره شهیدان ورکړی دی. مونږ په یوه شهید تورن عبدالحی پسی گرځیدلو او د بل شهید تورن عبدالحی کورته ودریدلو. تسر دیارلس لکه زمونږ د شهیدانو تعداد زیات دی. یعنی دهر اوو اتو کسانو په سرمونږ یو شهید ورکړی، دهرو اوو اتو افغانانو په سر یو تن شهید شوی او دری لکه دغسی کسان لرو چې یا یې لاس پری دی، یا یې پښه قطع ده، یا یې سترگی له لاسه ور کړی، یا فلج دی، خدای خبر چې په دی غونډه کې به څومره کسان داسی وی، چې دهغوی خامخا یوځای او دوه ځایه زخمی شوی وی. که دلته اوس پوښتنه وکړو چې څوک یتیم لری، څوک چې په کورکی کونډه لری، څوک چې شهید لری، څوک چې معلول لری، څوک چې معیوب لری، څوک چې پخپله زخمی شوی لاس دی او پورته کړی، زه یقین لرم چې داسی څوک به پاتی نشی‌چې هغه دی لاس اوچت نه کړی. دا زمونږ حالت دی، دغه قربانی زمونږ ملت د خدای لپاره او د اسلامی حکومت لپاره ورکړی دی. دکندهار زړورو او با ایمانه مجاهدینو دا ټولی قربانی ددی لپاره

ورکړی، چی په افغانستان کی دی د یـوه مسلمان امیر لو قیـادت تـر مشری لاندی یـو اسلامـی حکـومت جوړشی. (د برخوالو و تکبیر) .

ځوک چی د خدای لپاره او چت نشی . په آخـرت او الله یې ایمان نه وی او پـه شهـادت کی خپـل ژوندونه لټوی، هغه دومره قـربانی ته نشی تیاریدلی . ستاسی به په یادوی چـی کله هـم شاهی نظام د یوی سپینی کودتا په نتیجه کی نسکوریده ماتـه و ښیی چی چا په هغـه ورځ یو کارتوس فیـر کړی ؟ د چا یـوه قطره وینـه تـویـه شوی ؟ چا دهغه رژیم نه د یوی قطری اوښکی یـا د یـوی قطری وینی په قیمت دفاع کړی؟ ولی خلک هلته دیته تیار نشول چی یـوه قطـره وینـه دی تو . شی ؟ ولی دوی په هغـو ټانکونـو بـانـدی دګلوګیډی اینبودلی چـی هغـه رژیم یې نسکور کړی و ؟ په دی خاطـر چی له هغـه رژیم نه یې دفاع یو اسلامی جهاد نـه ګڼلو. ولی راشی اوس و ګوری چی د یو مورچلی نه د دفاع په خاطر یو په بل پسی ګڼ شمیر مجاهدین په شهـادت رسیـدلی، ماته هغـه بلـه ورځ ورونو ویل، وچی په ارغنداب کی د یوه زیکا ویک خواته څلورتنه مجاهدین یوپه بل پسی شهیدان شوی دغوښوتوټی زیکاویک شاو خواته پرتی، بم وربانـدی لګیدلی، خوهمدغی مورچلی ته بل مجاهده پورته کیږی، هغه په شهادت رسیږی بل ورپورته کیږی، د یـوی وړی مـورچلی نه اوس ګڼ شمیر مجاهدین په داسی شهامت سره دفاع کوی. (د برخـوالـو تکبیـر) .

زمونږ ملت به د اسلامی حکومت نـه په راکم شی راضی نشی. زما ورونو تر اوسه پـوری خو مـونږ د جنګ خبره کوله او په دی کی پوره کامیاب وو. الحمد لله اوس زمونږ جنګ د کامیابی درشل ته رسیـدلی دی، اوس زمونږ او د وروستی فتحی ترمنځ ډیره کمـه فاصله موجوده ده او انشاء الله د فتحی ورځی نوری نږدی دی. خدای به روسان د افغانستان نه خجل رسوا او ناکام باسی او پـه افغانستان کی به د مجاهدینو په لاس اسلامی حکومت جوړیږی. خو اوس دا خبره مهمه ده ، چی په دی خبره باندی مونږ فکر وکړو، چی سباته به ځوک حکومت کوی؟ اسلامی حکومت به دچاپه لاس جوړیږی ؟ څنګه به جوړیږی ؟ ددی مختلفو تنظیمونو ترمنځ بـه دا فیصلـه ځوک کـوی ؟ څنګه به دا فیصله کیږی ؟ ددی لپاره چی د تنظیمونو ترمنځ د قدرت په سر جنګ ونشی، وینی توی نشی، یو بل ته په مورچلو کی پرینـوځی، د خپلی وسلی پـه زور ځوک خپـل رقیب او حریف ونه ټکوی، او قدرت دی غضب نکړی، ددی چاره په څنګه کوو ؟ داهم ستاسی د فرد فـرد وظیفه ده، تاسو ټولو مخورو، علما ؤو، مشرانو ورونو چی تـر اوسه دغه جهاد دغی مرحلی تـه را رسولی. نن بایـد پـه دی خبره فکر وکړی چی دالوی مشکل مونږ څنګه حل کولای شو ؟ دښمن هم دغه تبلیغات کوی چی که روسان ووتل، د نجیب حکومت نسکـور شو، نو په افغانستـان کی به بې امنیتی اوخونریزی شروع کیږی. بل جنګ به پیل کیږی بیا به داسیاسی ډلی اوسیاسی احزاب دیو بل په خلاف وسله اوچتوی. او بالاخره به په افغانستان کی وینی توییږی. تر کومه ځایه چی په حزب اسلامی پوری اړه لری، ورونوزه دحزب اسلامی نـوم ددی په خاطر نه اخلم چی هغه یوه بیله امتیازی ډله و اوسی، مونږ دغه حزب ددی لپـاره ندی جوړ کړی چی له ملت نه بیل شی او ملت کی دی اختلاف را پیـدا کړی، دغـه حـزب مـونږ د ملت د خـدمت له پاره جـوړ کړی. ددی لپاره موجوړ کړی، چی له یوه منظم حزب او ټولګی نه پرته جهاد نشی کیدلای، تر جهـاد نـه مخکی اسلام مونږ مکلف کړی یو، چی یو تنظیم او امیر و لرو، بایـد بیعت وشی ، دغسی افـراد وی چـی سمع او اطاعـت ولـری منظم صف او حزب وی، تر هغه وروسته جهـاد او هجرت کیدلای شی، کله چی مونږ دجهاد اراده وکړه ، ومولیدل چی په افغانستان کی یو اسلامی حزب نشته، کمونستی ډلی جوړی شوی وی، د کمونیـزم سیلاب را روان دی، زمونږ ملک د کمونیزم خطر تهدیده وی. که دهغه مقابله ونکړو نـو دا زبکستان او تاجکستان له سرنوشت سره مخامخ کیږو. اراده مو وکړه، یـو بل تـه مو د وروری لاس ورکړ، پـه جومات کی مو سره و پیژندل. کښیناستلو چـی دغه خطر را روان دی، په ملت کی هـم دا آګاهـی نشته چی ددی خطر مقابله وکړی، څه وکړو ؟ تعهد مو وکړ چی یو حزب به جوړوو، له هغو کسانـو نه چی لـه لـوړی ورځی نه مو دغه تعهد کړی ما مخکی تاسی ته عرض وکړ، چی یو ولس کسان شهیدان شوی او یـوازی زه ژونـدی یم، مونږ دغه حزب ددی لپاره جوړ کړ، چی د اسلام کلمه او چته کړو. نه په دی خاطر چی په ملت کی اختلاف را پیدا کړو باور

وکړی که د جهاد د شروع کیدونه د مخه په افغانستان کی بل اسلامی حزب او امیر وای نو موږ به هیڅکله بیل حزب نه و جوړ کړی او بیل امیر به مو نه وو ودرولی. او له بل چا سره به مو بیعت نه وکړی. پداسی حال کی

چی مونږ دا گناه گڼو، چی یو امیر دی وی، مسلمانان دی په هغه راغونډوی، هغوی دی په خپلو منځوکی متحد وی او بل څوک دی ور سره اختلاف وکړی او بیل تنظیم دی جوړ کړی. پیامبر (علیه السلام) فرمایي چاچی دغسی کاروکړ، لوموړی امیر سره یي اختلاف پیل کړ او د مسلمانانو اتحاد یي ختم کړ، دهغه سری پری کړی او په قتل یي و رسوی، مونږ نه غوښتل چی بیل تنظیم جوړ کړو، قرآن عظیم الشان فرمایي: چی څوک یو جومات گوری دهغه بنیاد او اساس دی هم په تقوی سره ایښودلی شوی وی هغه به په همدی جومات کی و دریږی او لمونځ به کوی، بیل جومات به ځانته نه جوړه وی او د مسلمانانو په منځ کی به اختلاف نه را پیدا کوی.

(لمسجد اسس علی التقوا من اول یوم احق وتقوم فیه، فیه رجال یحبون ان یتطهروا والله یحب المطهرین)

هغه جومات چی د لوموړی ورځی نه یي اساس او بنیاد په تقوی ایښودل شوی، دا ددی وړ دی چی په هغه کی و دریږی او لمونځ پکی وکړی. په هغه کی داسی کسان دی چی پاکی خوښوی او خدای له پاکانو سره مینه ساتی، د پاکانو په ډله کی به و دریږی، په هغه جومات کی به و دریږی چی دهغه اساس او بنیاد له لوموړی ورځی نه په تقوی سره ایښودل شوی (د برخوالو تکبیر).

ورونړو! که د حزب اسلامی نه مخکی بل اسلامی حزب وای نوزه په تعهید دادرته وایم، چی مونږ به دا حزب نه و جوړ کړی. اوس زه د حزب اسلامی له طرف نه تاسی ته اطمینان درکوم چی مونږ نه غواړو د اقتدار په سردی ناحقه یوه قطره وینه هم توی شی. مونږ د خپل ملک آزادی غواړو او په هغه کی اسلامی حکومت، مونږ غواړو، چی د پرون ورځی ظالمان دی زموږ پر مظلوم قوم بیا مسلط نشی. بیادی هغه، فاسد، نااهله، بی دینه حکومتونه زمونږ پر ملت ونه تپلی شی. مونږ غواړو چی د ملت په خوښه دی یو اسلامی حکومت جوړ شی. هغه چا چی خپل ملک آزاد کړی، شهید یي ورکړی، وینی یي توی شوی، د دوی په خوښه دی یو اسلامی حکومت جوړ شی. مونږ غواړو چی انتخابات وشی، د ملت رأی ته دی رجوع وشی. په چا باندی چی هغوی اعتماد وکړ مونږ دهغه حکومت منو. زه دادی لاس او چتوم، چی زما دی مجاهد ملت چی په چاباندی اعتماد وکړ زه دهغه حکومت قبلوم. په دی خاطر چی زه اوس په خپل ملت اعتماد لرم دغه ملت چی اوس یي دیارلس لکه شهیدان د اسلام لپاره ورکړی. یقین لرم چی هغه به له مسلمان حکومت نه پرته په بل حکومت راضی نشی، شرعاً هم دادی ملت حق دی. هیڅوک حق نلری چی د خپلی خوښی حکومت په خلکو باندی وتپی. اسلاماً هغه امیر چی خلک په خپله خوښه او آزادی له هغه سره بیعت ونکړی دهغه امارت مسلم ندی. هغه یا غاصب امیر دی اویاهم جابر امیر، په اسلام کی خاندانی حکومتونه نشته، پیامبر (علیه السلام) رحلت کوی ولی دخپل کور، تبر او کورنی نه څوک مشخص دامیر په حیث نه ټاکی، څوک نامزدکوی هم نه، امت ته یي پریږدی چی هغه یي پخپله خوښه انتخاب کړی، گوری چی د مدینی خلک پخپلو منځونوکی را غونډیږی، انصار وایي چی امیر باید زمونږ له منځ نه وی، مهاجرین وایي چی امیر باید له مونږ نه وی. یو بل څوک غږ او چتوی چی نه یو امیر له تاسی نه او یو امیر له مونږ نه، یو بل وایي چی نه امیر له مونږ نه اووزیر له تاسی نه، حضرت ابوبکرصدیق(رض) وایي چی حضرت عمر(رض) ددی وړدی چی باید ورسره بیعت وشی هغه راپورته کیږی اودحضرت ابوبکرصدیق(رض) په لاس بیعت کوی. ددی خبری معنی داده چی دا موضوع امت ته پریښودلی شوی چی پخپله خوښه امیر انتخاب کړی. حضرت عمر (رض) همداسی انتخاب شو، حضرت عثمان (رض)، حضرت علی (کرم الله وجهه) ټول. مونږ وایو چی د ملت په خوښه چی کوم حکومت جوړ شی مونږ هغه حکومت منو، انتخابات دی وشی، د انتخاباتو په نتیجه کی چی دی ولس په چا باندی اعتماد وکړ مونږ هغه منو، زمونږ په باب داویلی کیږی چی حزب خو ډیره وسله لری، تاسی اوری کنه چی په دی شپو ورځوکی مخصوصاً تبلیغات کیږی، چی د پاکستان حکومت اوشهید ضیاءالحق، د حزب ملگرتیا کوله اوله هغه سره یي خاصه دلچسپی او

علاقه درلود له، او اوس چې هغه شهید شوی دی ، حزب په میدان کې یواځې پاتې دی او حزب زیات وسایل لري ، تنظیم لري او مجاهدین لري او قوت لري او انحصار طلب دی او د قدرت لپاره په کمین کې دی. چې یوځل روسان ووځي او د نجیب حکومت نسکور شي. خدای خبر چې له نور، دې وړو وړو احزابو سره به هغه څه کوي! داخپل حریفان به څنګه تکوي، څنګه به قدرت په زور سره ترلاسه کوي. د حزب پرخلاف له ابتداء نه تر اوسه مسلسل همدا ډول تبلیغات کیدل. خو ورونو تاسي شاهد اوسئ زه غواړم چې د خدای په وړاندې او ددې ملت په وړاندې مسئول نه وم او اتمام حجت وشي .

زه نه غواړم چې په افغانستان کې دې د اقتدار په خاطر یوه قطره وینه هم په ناحقه تویه شي. زه له چا سره د جنګ غوښتونکی نه یم ، زه د وسلې په زور حکومت غوښتل نه غواړم، په دې یقین نلرم، او زه هغه یو غیر اسلامي حکومت ګڼم، زه غواړم چې د د ملت په خوښه دې اسلامي حکومت جوړشي، زه په انتخاباتو باندې اصرار کوم، ما ورونو ته ویلي دي چې راځئ له اوسه لاد مجاهدینو حکومت جوړ کړو، زما د ریاست په دوران کې د مجاهدینو حکومت جوړشو، ماویل راځئ چې دا حکومت عملاً په داخل کې تأسیس کړو، ترڅو ښا زمونږ ملت په دې تشویش کې نه وي چې که روسان ووتل نوڅوک به حکومت کوي، دا حکومت به تیار جوړوي، د نجیب د حکومت ځای به ونیسي. بیا به د همدغه حکومت ترنظارت لاندې عام انتخابات وشي او بیا به یو منتخب حکومت جوړ شي. الحمد لله دغه کار وشو. ما هغوی ته پیشنهاد وکړچې راځئ اوس یوه منتخبه شوری جوړه کړو، ترڅو ملت مطمئن شي چې ددې نه پس چې حکومت راځي، داسې نده چې احزاب به پې پرمونږ باندې مسلط کوي . او مشران به د خپلې خوښې مطابق یو حکومت راولي. حزبي حکومتونه به وي ، خانداني او کودتائي حکومتونه به وي. ملت مطمئن شي، راځئ چې همدا اوس یوه منتخبه شوری جوړه کړو. ولې تاسو ګورئ چې ځیني دوستان له انتخاباتو نه ویریږي. زه له انتخاباتو ویره نلرم. زه په خپل ملت اعتماد لرم. داد ملت حق ګڼم. دغه ملت چې په هر تبر کې شهید ورکړي ، آیا دا حق نلري چې د ښا ورځې حکومتونو په باب خپله خوښه څرګنده کړي ؟ خپله رأیه ورکړي ؟ له

هغه نه تپوس وشي ؟ د جهاد لپاره خو هغوی په ما پسې ملاتړله، قرباني ئې ورکړه اوشهیدان يې ور کړل. ولې دحکومت د جوړولو وخت چې راشي. بیا وایو چې نه هغوی خو په څه نه پوهیږي. داخو د امیرانو کار دی او دا ملت خوبې سواده دی ، اکثریت يې بې سواده دی . دښه او د بدو تفکیک نشي کولای . قرباني ورکولای شي .

اسلام لپاره شهید ورکولای شي ، سنګرونه پاللی شي ، د دښمن مکر پیژندلی شي ، د هغوی توطئې شنډولی شي . خو چې د حکومت د جوړولو وخت را ورسیږي بیا وایو چې نه دا خونه پوهیږي ، بې سواده دی ، زمونږ د ملت اکثریت خلک بې سواده دي، خو زه وایم چې دغه بې سواده خو مؤمن او مجاهد ملت فیصله منم ، دی قوم چې کومه فیصله وکړه زه هغه منم . (د برخوالو تکبیر) .

ورونو ! زه د اتمام حجت لپاره دا خبره بیا تکراروم ، څکه حزب اسلام متهم دی ، اوس حزب اسلامي انتخابات غواړي خو نور کسان له انتخاباتو نه ویره ساتي . یالویه جرګه یا ده وي او یا بې طرفه حکومت یاده وي ، زه نه لویه جرګه منم او نه هم بې طرفه حکومت . که څوک کولای شي ، یو بې طرفه حکومت راولي ، له دې ځایه نیولې او تر لندن ، واشنګټن او مسکو پورې دې لاس خلاص وي. زه به وګورم چې هغه څنګه بې طرفه حکومت راولي . نور بې طرفه حکومت په افغانستان کې نشي چلیدلی . د مجاهدینو حکومت به راځي . له دینه پس په افغانستان باندې د مجاهدینو نه پرته بل څوک حکومت نشي کولای . زما مهاجره وروره ته به حکومت کوي . هغه مجاهد به حکومت کوي چې زخمي شوي او وینې يې توې شوي . زه هغه بې ننګه ، بې طرفه نه منم ، چې لس کاله دلې . زما په ملک باندې د ګولیو باران وي او هغه دې په اروپا او امریکا کې چړ چې کوي او ناست دی . روسان هغه ته بې طرفه وایي . زه د هغسې بې ننګه ، بې طرفانوحکومت نه منم، د یوې شپې لپاره يې هم نه منم. آیا تاسو به د دغسې بې ننګه ، بې طرفانو حکومت ومنئ ؟ څوک چې دغسې حکومت نه مني هغه دې خپل لاسونه اوچت کړي (د برخوالو مکرر تکبیر و نه او د ورور حکمتیار له دغې وینا سره د پیوستون نعرې) .

ورونو ! کوردوویز دا خبره کوي چې ما له افغانانو

به دا تپوس کړی چې اکثریت افغانان انتخابات نه خوښوی او لویه جرگه غواړی . ما هغه بله ورځ په یوه مطبوعاتی کنفرانس کی وویل : چې کور د وویزصاحب له چا نه تپوس کړی ؟ چا ورته ویلی چې مونږ انتخابات نه غواړو او لویه جرگه غواړو . دا چیرته هغه سروی کړی . په کوم ځای کی یې له خلکو نه پوښتنه کړی . عجیبه ده ! هغه په خپل ملک کی انتخابات غواړی او زما په ملک کی لویه جرگه غواړی . زه ورته وایم چې زه لویه جرگه نه غواړم ، زما مجاهدینې نه غواړی . زما ولسې نه منی . لویه جرگه زما مسئله نشی حل کولای . لویه جرگه خو نجیب هم دایره کړه . آیا د افغانستان مسئله‌ې حل کړی شوه . کوردوویز دا خبره د مسکو په اشاره سره کوی ، له واشنگټن سره د تفاهم وروسته هغه دغسی پلان جوړ کړی ، چې څنگه په افغانستان کی د مجاهدینو په لاس حکومت را نشی . که د ملت نه پوښتنه وشی نو په طبعی ډول به د مجاهدینو په لاس به اسلامی حکومت جوړیږی. خو که مسئله مود پنځو کسانو ته چې په اروپا او امریکا کی پراته دی) خوښی ته پریښو د له بیا به اسلامی حکومت نه راځی ، هغه وایی چې لومړی دی ، د د یرش تنو بیطرفانو یو مؤقت حکومت جوړ شی ، بیا به دا د بی طرفانو حکومت د خپلی خوښی لویه جرگه را وبولی. بیا به دا لویه جرگه په افغانستان کی دایمی او ثابت حکومت جوړوی ، چې د تل لپاره به هغه حکومت د یوه قانونی حکومت په توگه پاتی وی . مطلب ته متوجه یاست ؟ لومړی به دیرش کسه بیطرفان ، بیطرفان څوک دی ؟ بیطرفان هغه دی چې روس ورته بیطرفه ووایی . یعنی په دی اس کاله کی ئی روسانو ته څه بده خبره نه وی کړی . د هغوی مخالفت یې نه وی کړی، د مجاهدینو ملگرتیایې نه وی کړی ، په جهاد کی یې برخه نه وی اخیستی ، د یتیم اوښکی یې نه وی پاکی کړی ، د رحمی په سریې لاس نه وی ایښی . د شهید د کورنی تپوس یې نه وی کړی د جهاد گردونه‌ې په سر نه وی ، پریوتی ، اروپا او امریکا ته تللی وی ، هلته‌یې چرچې کړی وی او پدی ډول یې روسانو ته ثابته کړی وی چې زه بی طرفه یم. هغه ته د دغسی دیر شو «بی طرفانو» حکومت وایی . بی طرف به روسان هم منی ځکه دا د روسانو د خوښی بی طرفان دی . بیا به انتخابات نه کیږی . بیا به له ملت او مجاهدینو نه تپوس نه کیږی . دغه دیرش . بی طرفان به له اروپا او امریکا او ایتالیا نه راځی . او په افغانستان کی به حکومت جوړوی . بیا به د خپلی خوښی څه کسان را غونډوی او هغو ته به د لویې جرگی نوم ورکوی ، پوهیږی چې څوک به را غونډه وی ؟ د خپلی خوښی کسان داسی ته چې ستا د خوښی کسان به پکی راځی . نه ! هغوی د خپلی خوښی کسان به پکی راټولوی. او هغه به هم په اصطلاح بی طرفان وی ځکه که بی طرفان نه وی. خو بیا خوبې روسان نه منی!!! مجاهد نشې را تلای ، قوماندان نشی راتلای . په دی خاطر چې هغوی بی طرفه نه دی ، روسان یې نه منی . بیا به دغه لویه جرگه د خپلی خوښی دایمی او ثابت حکومت جوړه وی او هغه حکومت به تل لپاره پاتی وی . ما ته ووایاست ، چې له افغانانو نه به داسی بی همته څوک پیدا شی چې دکوردوویز دا طرحه دی ومنی؟ څوک چې د دغه پلان په کلکه مخالفت کوی او هغه غندی هغه دی خپل لاسونه اوچت کړی (د برخوالو مسلسل تکبیرونه تونو خصارو خپل لاسونه پورته کړل او د مجاهد وروز حکمتیار له دی وینا سره یې ټول خلل بیا خپل کلک ملاتړ وښود) .

ما هغه بله ورځ په یوه مطبوعاتی کنفرانس کی وویل چې آیا کوردوویز صاحب ما ته د دی اجازه را کوی چې زه د ده د ملک اکوادور په هکله د دواړو احزابو بعضی مخالف حزب او واکمن رژیم ترمنځ (چی هلته هم د قدرت کشمکش دی ، د انتخاباتو کار پیل شوی او انتخابات کیږی .

لومړی د بیطرفانو حکومت جوړ کړم ، بیا دی هغه بیطرفه حکومت لویه جرگه را و بولی . بیا دی د دواړو احزابو ترمنځ منازعه په دی شکل حل شی ، چې دغه لویه جرگه دی فیصله وکړی، چې د خپلی خوښی حکومت جوړ کړی . کوردوویز صاحب دا منی چې زه دی د هغه ملک په برخه کی دغسی تصمیم ونیسم ؟ که هغه دېته تیار ندی ، زه څنگه دا ومنم چې په افغانستان کی دی د کوردوویز صاحب د خوښی د بیطرفانو حکومت را شی . هغه هم پداسی حال کی چې کوردوویز له خپله طرفه هیڅ نشی کولای . مسکو او واشنگټن چې څه ورته ووایی هغه خبره کوی ، هغه نه خپله طرفه هیڅ هم نشی ویلای . هغه

ورور حکمتیار د کندهار له مخورو مجاهدینو سره دروغبړ په حال کې

لومړی څې مسکو ته، بیا واشنګټن ته ، له هغوی نه به استمزاج کوی او چې وپوهیدلو چې دوی په کومه خبره راضی کیږی . بیا هماغه خبره کوی . زما د ملت پروا نلری ، زما د شهیدانو غم ورسره نشته بلکی هغه د روس امریکا خوښی ته ګوری چې هغه په څه باندی راضی کیږی .

ورونو ! مونږ دا لویه جرګه او هاغه لویه جرګه نه منو ، دنیا ته مو دا اعلان دی چې زمونږ له ملک نه لاس په سر شی . روسی پوځونه دی ووځی . زما د ملک په داخلی چارو کی مداخلت مه کوی. ما پریږدی چې خپل سرنوشت پخپله وټاکم، زما په ولس کی دا اهلیت او کفایت شته چې خپل مشکلات په خپله حل کړی . ستا وصایت سرپرستی او قیمومیت ته حاجت نشته . که چیری زه ونشم کړای چې خپل کورنی مشکلات په خپله حل کړم ، بیا به له چا نه غوښتنه وکړم چې راشه له ما سره مرسته وکړه، چې زما په ملک کی کورنی مشکلات دی را سره حل یې کړه . خو تر اوسه پوري زه دی ته نه یم اړ شوی . ته ووځه ، خپل پوځونه وباسه . زما په کورنیو چارو کی مداخلت بند کړه، ما پریږده چې زه د خپلی عقیدی په رڼا کی خپل مشکلات حل کړم ، که ونشم . توانیدلای ، مجبور شم ، ستا کومک ته اړ شم ، بیا به تاته خواست وکړم . بیا به تاته لاسونه اوږده کړم چې راشی له ما سره مرسته وکړې !!! خو زه دیته اړنه یم . زه خپل مشکلات پخپله حل کولای شم ، ته ووځه ، ته ما ته مشکل مه را پیدا کوه ، زه خپل مشکلات پخپله حل کولای شم . زه دنیا ته همدا خبره کوم . روسان دی ووځی ، د روسی ټانکونو په سر چې حکومت راغلی . هغه دی نسکور شی. بیا دی زما ملت ته دا موقع ور کړی چې خپل سرنوشت پخپله وټاکی، انتخابات به کیږی او د انتخاباتو په نتیجه کی به یو منتخب حکومت جوړیږی .

ورونو ! تاسی به په دی شپو او ورځو کی اوری چې زما او حزب اسلامی په خلاف په ډیره براخه پیمانه ناروا تبلیغات او پروپاګند کیږی . مونږ صرف یوه ګناه لرو او هغه دا چې د اسلامی حکومت نه پرته بل څه نه منو ، زما صرف همدغه ګناه ده . زه دښمن ته نه تسلیمیږم، زه له روس او امریکا سره سازش نه کوم ، په دی خاطر

چې له ما له سره یو منظم قوت دی . د دی قوت په جهاد کی لویه برخه ده . هغه سازش ونکړ ، دښمن په خپل دام کی ونشو اچولای او همیشه یې د هغه مقابله کړی .

په دی خاطر باید طبعاً زه د دي ناروا تبلیغاتو نښانه وم ، باید په ما پسی دغه ټول تبلیغات وشی . بی‌بی‌سی صدای امریکا ، د روس خبری آژانسونه ، کابل راډیو ، یواځی دا تیره شپه به نی ترلس څله زیات زما په خلاف تبلیغات کړی وی، خو زه له دغو تبلیغاتو څخه نه ویریږم، زه له خدای نه راضی او مشکوریم . چې دواړه د اسلام ضد طاقتونه له ما نه نا امیده دی او له ما نه طمعه نلری . خدایه شکر چې ما ته د اسلام دښمنان طمعه نلری . زه به په هغه صورت کی خفه وم چې د اسلام دښمنانو طمعه را ته درلودلی او زه یې خپل دښمن نه ګڼلی .

زما یې تقدیر او تمجید کولای . زما یې ستاینه کولای. زه د خدای نه سپاس‌ګذاریم چې دښمن له مانه طمعه نلری او په دی پوهیدلی چې زما سازش ورسره ممکن ندی . مونږ ته افراطی جنګجو او سازش ناپذیر عناصر وائی او دغه تیره شپه به مو اوریدلی وی، چې ویلی یې چې ګویا د خنګله په کمپ کی ځینی کسانو د حکمتیار د رالولو نه مخنیوی وکړ او پرینښود چې هلته جلسه وکړی .

حال دا چې الحمد لله مونږ د ځنګـه په کمپ کې لویه جلسه درلودله . ځینو کسانو دا اعلان کړی و چې دلته څوک جلسه نشي جوړولای ماویل چې وبه ګورو چې جلسه جوړولی شي او کنه ! دا به څـوک وي چې زما د جلسې مخه ونیسي. روس او امریکا چې زمونږ مخه ونشي نیولای. نو ته قوم فروش به ځنګه زما په مخ کې ودریږې . مونږ جلسه دایره کړه زمونږ دا جلسه له اتو بجو څخه تریوی بجـې پـورې وه . مـا تقریبـاً یـو نیـم ساعـت پـه هغـه جلسه کې خبـرې کـړې او ترپایه پورې هم خلک آرام ناست وو او خلک راتلل او یو کس هم له جلسې نه ندی خـو څیـدلی ، خـو امـریـکا غږ راډیـو باید ووایي چې چې حکمتیا د ځنګله کمپ ته تلو خوښلته د «ظاهر شاه» طرفدارانو ورته د تلو موقع ورنکړه، مورچل په مورچل تلل او بالاخره هغه مجبـور شو چې خپلـه جلسه وځنـډ وي . تاسو به اوریدلي وي چې زمونږ په خلاف دا ویل کیږي. چې روسان وځي خوحکمتیاري نه پریږدي. هغوی ورباندې حملې کوي . یوازې دې پر روسي پوځونو باندې د حملې طرفداردي او که دا حملې جاري وي کیداې شي چې روسان خپل وتل وځنډوي ، هو! ما دا فیصله کړې چې په روسي پوځونه باندې به حتې هغه وخت هـم حملې کیـږي چې دوې زمونږ له ملک نه دوتلو په حـال کې وي ، دا ځکه چې ما ویلي ووچې که روسان د افغانستان د مسئلې حل کول غواړي، نو له مجاهدینو سره دې خبرواتروته کیني. له چا سره چې د جنګ په میدان کې جنګیږي . د میز په سر دې هم له هغو سره کیني او مخامخ خبرې دې ورسره وکړي . له امریکا سره زما په سر سازش نشي کـولای . پاکستان زما نماینده ګی نشي کولای ، زه آزاد یم ، غلام نه یم ، هیڅوک زما سرنوشت نشي ټاکلی . که روسان د افغانستان د مسئلې حل غواړي نو له مجاهدینو سره دې خبرواتروته کیني او که له دینه پرته روسان له یـوې بلې لارې نه د افغانستـان د مسئلې د حل کـولو کـوښښ وکړي . نو مونږ به بیا د دغسې معاهدې د منلـو پابنـد نه یو . بیا به زمونږ حملې په روسي پوځونو حتې په هغه وخت کې هم جاري وي چې وروستي پوځي یې له افغانستان څخه وځي .

ورونـو ! د دې وجـه دا ده چـې روسي پوځونه هغه چې له کابل نه خوځیږي ، نو هغو ته د کابل مزدور رژیم دامې صحنې برابره وي چې د ګلو هارونه یې په غاړه کې ور واچوي، د ګلو ګیډې ورکړي، د ګلو پاڼې وربانډې وپاشي . چې ګویا هغوی خپله «انترناسیونالیستـې» وظیفه



په عکس کې د ډي ، وي ، ټا راکټ له دستګاه سره په نظر راځي چې د کابل ولایت د شکر درې ولسوالۍ په فتح کې د ورور احمد شاه ناصري تر قوماندې لاندې په غنیمت نیول شوې

الف : فقهی قواعد :

بوولسمه قاعده : (الاصل فی الکلام الحقیقة)

ترجمه : «په کلام کی حقیقت اصلی حالت دی»

یعنی ترهغی وخته پوری چی د کلام حمل کول په حقیقی معنی باندی ممکن وی به مجازی معنی باندی ئی نشی حمل کیدلی او د امکان تر سرحده پوری استعمال شوی لفظ کی د هغه د حقیقی معنی مرادول لازمی خبره ده دا ځکه چی په لفظ کی حقیقی معنی اصل او مجازی معنی خلاف اصل ده او ترڅو پوری چی د اصل امکان وی د اصل خلاف ته عدول نه شی کیدلی .

لفظ به له دوه ؤ حالتو ځخه خالی نه وی یا به حقیقت وی او یا مجاز . حقیقت : هغه لفظ دی چی په خپلی هغی معنی کی چی د هغی د پاره وضعه شوی دی استعمال شوی وی . لکه (ځیروونکی) لفظ چی د هغی نه ځیروونکی حیوان مراد شی یا د (نور) لفظ چی د هغی نه روښنائی مراد شی .

مجاز : هغه لفظ وی چی پرته د هغی معنی نه کوم چی د هغی د پاره وضعه شویدی استعمال شوی وی . خو د حقیقی او مجازی معنی‌گانو ترمنځ به یو نه یو مناسبت موجود وی او د حقیقی معنی مراد کولو ځخه منعه کوونکی قرینه موجوده وی . لکه (ځیرووبکی) لفظ چی هغی نه ظالم انسان مراد شی یا د (نور) لفظ چی د هغی نه علم مراد شی . ولی نه (ځیرووبکی) او یا د (نور) الفاظ مطلق ذکر شی نو پرته د حقیقت نه پر بل څه نشی حمل کیدلی او بواځی پرهغو معنی‌گانو باندی چی (ځیرووبکی) او د (نور) الفاظ ورته وضع شویدی حمل کیږی . مگر په هغه صورت کی چی په حقیقی معنی باندی ئی حمل کول له سره امکان ونه لری نو بیا هغوی په مجازی معنی‌گانو باندی حمل ولی شی خو دا هم هله چی د حقیقی معنی د مراد کولو ځخه منعه کوونکی قرینه موجوده وی . که ته ووائی چی ما ځیرووبکی ولیده نو ستا د خبری نه معلومیدلی شی چی تا ځیرووبکی حیوان لیدلی دی اوکه ووائی چی نور خپور شو نو ستا د خبری نه فهمولی شی چی روښنائی خپره شویده . ولی که ته ووائی چی ما ځیرووبکی ولیده چی د قضاء په کرسی ناست ؤ . ستا د خبری نه دا معلومیدلی شی چی تا ظالم قاضی لیدلی دی . نو ځیرووبکی لفظ دی پدی مجازی معنی کی له دی کبله استعمال کړو چی د دی او د حقیقی معنی ترمنځ مناسبت موجود دی هغه دا چی ظالم د ځیرووبکی حیوان سره مشابهت لری . امکان نه لری چی پدی کلام کی د ځیرووبکی لفظ ځخه حقیقی معنی مراد شی ځکه چی قرینه هغه دا خبره چی د (قضاء په کرسی ناست ؤ) د دغی حقیقی معنی مرادکول منعه کوی . په همدی ډول که ته ووائي چی (نور استونو ته لیکمرغی وربه برخه کوی) د دی له فهمیدلی شی چی تا د نور د لفظ نه د علم معنی مراد کړیده د دی قرینی په سبب چی (استونو ته لیکمرغی وربه برخه کوی) او د دواړو معنی‌گانو ترمنځ مناسبت هم شته هغه دا چی علم د نور سره مشابهت لری له دی حیثه چی هر یو له دی دواړو نه خفی او مستور ځیزونه کشفوی او صواب او سمی لاری ته لارښووله کوی .

پدی قاعده باندی بناء شوی مثالونه :

۱- که یو سړی وویل چی دا کورمی پرخپلو اولادونو له هغوی وروسته پر فقیرانو باندی وقف کړی دی او هغه سړی هم ځامن او هم لمسیان درلودل نو وقف ئی ځامنو ته او له هغوی وروسته فقیرانو ته رسیږی او لمسیانو ته ئی نه شاملیږی ځکه د اولاد لفظ حقیقت دی په ځامنو کی او مجازاً په لمسیانو کی استعمالیږی او ترڅو پوری چی حقیقت ممکن وی مجاز ته تگ نه شی کیدلی . اوکه یو کس وویل چی دا حمام می پرخپلو اولادونو او له هغوی وروسته پر مسکینانو باندی وقف کړیدی او ده ځامن نه درلودل بواځی لمسیان ئی وه نو وقف ئی لمسیانو ته کیږی یعنی مجازی معنی مراد کیدلی شی ځکه چی د حقیقی معنی مرادول د امکان په چوکاټ کی نه راځی .

۲- که یو سړی وویل چی دا سرای د زید دی نو د هغه دا کلام حمل کولی شی په اقرار باندی پدی خبره چی سرای د زید ملکیت دی . او که وئی ویل چی زما له مرگه وروسته زما دا سرای د زید دی د هغه دا کلام پدی خبره اقرار نه شی‌گڼل کیدای چی سرای د زید ملکیت دی بلکه د زید لپاره په هغی سره وصیت بلل کیږی د هغه دا خبره چی (زما له مرگه وروسته) د دی مجازی معنی په اخیستلو باندی قرینه ده .

۳- که اصیلی ښځی خپل خطبه کوونکی ته وویل چی پرتامی خپل ځان د زرو روپو په بدل کی خرڅ کړیدی او هغه وویل چی قبوله کړی می‌ئی . د نکاح عقد منعقد کیږی او د هغی دا قول چی (پرتامی خرڅ کړیدی) د حال او مقام په قرینی سره په مجازی معنی باندی حمل کول شی چی هغه تزویج او نکاح ده . ځکه چی اصیله ښځه اصلاً خرڅیدلی نه شی . همدا ډول نوموړی مقام د ازدواج مقام دی ممکنه نده چی لوموړی لفظ له مجازی معنی نه پرته په حقیقی معنی باندی حمل کړی شی .

دولسمه قاعده : (لا عبرة للدلالة فی مقابلة التصریح)

ترجمه : «د تصریح په مقابله کی دلالت ته اعتبار نشته»

د مفاهیمو اداء کول به یا پرمغوی باندی د صراحت له لاری نه وی یعنی د مراد په افاده کولو کی به په صریح او څرگندو الفاظو سره وی او یا به د حال د دلالت د لاری نه وی . که یو څوک تا ته ووائی چی دا کتاب واخله نو د هغه دا خبره د کتاب پرقبض باندی د اذن په افاده کولو کی صریح بللیء شی .

اوکه درته ووائی چی دا کتاب می پرتا باندی دلسو روپو په بدل کی خرڅ کړیدی او ته ورته ووائی چی قبول کړی می دی او ثمن دی نه وی ورکړی . ته کولیء شی هغه کتاب قبض کړی ځکه د بیعی حالت پر اذن باندی په قبض سره دلالت کوی . مگر صراحت خو را قوی دی د حال د دلالت نه .

نو که صراحت او دلالت دواړه سره جمعه شی او مراد له هغی دواړونه سره مختلف وی نو اعتبار هغه څه ته ورکول کیږی چی صراحت افاده‌کړی وی نه هغه ته چی دلالت ئی افاده‌کوی . لوکه چی دواړه سره متعارض واقع شی دلالت ساقطیږی او په صراحت باندی عمل کیدلی شی .

مثالونه :

۱- که یو چا په بل باندی مال خرڅ کړ او مشتری بائع ته ثمن له وی تسلیم کړی او مبیعه‌ئی په مجلس کی قبض کړه نوکه د بائع له خوانه د مبیعی د قبض نهی ورته نوه شوی د مشتری دا قبض صحیح کیږی که د حال په دلالت سره هغه د هغی پرقبض باندی مأذون گرځول شویدی . او بائع ته د دی حق ندی حاصل چی مبیعه تری بیرته واخلی او د ثمنو په بدل کی‌ئی محبوسه وساتی .

ولی که بائع، مشتری د مبیعی د قبض نه منعه کړی ؤ نو پدی صورت کی دلالت ساقطیږی او مشتری مأذون په قبض نگرځی نو که مبیعه‌ئی د نهی نه بعد قبضه کړی وه بائع ته د هغی د استرداد او د ثمنو په بدل کی د حبس حق حاصل دی ځکه په قبض باندی اذن دلالتاً دی چی هغه په صریحی نهی سره کومه چی د دلالت سره معارضه ده ساقط شویدی .

۲- که یو چا بل ته مال هبه کړ نو د هبی حالت د موهوبه ځیز د قبض پر اذن باندی دلالت کوی . که موهوب له هبه شوی ځیز په مجلس کی قبض کړ نو دا قبض ئی صحیح دی ځکه چی ده ته دلالتاً د هغی په قبض سره اذن شویدی او هبه تمامه او بشپړه شوه (ځکه چی هبه پرته له قبض ځخه نه بشپړه کیږی) او موهوب له (چا ته چی هبه شویده) د موهوبه ځیز مالک گرځی او په هغی کی ئی تصرفات صحیح دی .

ولی که هبه کوونکی موهوب له د هبه کړی شوی ځیز د قبض ځخه منعه کړی ؤ او له منعی ځخه وروسته ئی هغه ځیز قبض کړ نو د هغه دا قبض له صحیح کیږی او هبه هم نه پوره کیږی او موهوب له د موهوبه ځیز مالک نه گرځی چی طبعاً په هغی کی ئی تصرفات هم نه صحیح کیږی دا ځکه چی په قبض سره اذن دلالتاً دی چی هغه په صریحی لهی سره کومه چی د دلالت سره معارضه ده ساقط شویدی .

۳- که یو شخص داسی مغازی ته ننوت چی هغی کی ځیزونه د مشتریانو د کتنی او نظر لپاره عرضه شوی وه او د هغوی نه ئی یو ځیز د پیرودلو لپاره راواخیست او د تقصیر او تیری نه پرته ئی له لاسه ولوید او هلاک شو . نو د هغی ضمان پرده باندی نشته .

ځکه چې د مشتریانو دکتنې د پاره د عرض حالت دلالت کوي پر اذن بانـدې پردې خبره چې مشتري هغه څیز د شراء په وخت کې راواخلي او وئې ګوري . ولې که د مغازې خاوند نوموړی شخص د عرضه شوي څیزونو د یو څیز د را اخیستنې څخه منعه کړ او هغه له منعې وروسته را واخیست او دلاسه ئې ولویـد او هلاک شو . نـو پدې بانـدې د هلاک شوي څیز ضمان دی . اګرکه په هغې کې له ده نه تېرې او کوتاهي هم نـه وې شوې . دا ځکه چې پـه اخیستلو سره اذن د حال په دلالت سره دی او هغه پـه صریحې نهې سره کومه چې د دلالت سره معارضه ده ساقط شو .

دېارلسمه قاعده : (لا مساغ للاجتهاد في مورد النص)

ترجمه : «پـه کومه مورد کې چې نص وارد شوی وي هلته د اجتهاد لپاره جواز نشته» یعنې اجتهـاد پـه هغې شرعي قضیه کې ـ نه روا کیږي کوم چې د هغې پـه حکم باندې نص وارد شوی وي ځکه اجتهـاد په هغه قضیه کې صورت نیسي چې په هغې کې له سره نص نه وي راغلی .

اجتهـاد په لغت کې زیار او زحمت لګول دی د مقصود د ترلاسه کولو لپاره . او پـه اصطلاح کې د فقیه له خوا د زحمت مصرفول دي د شرعي حکم د تحصیل لپاره .

د اجتهاد شرائط : مجتهد بایـد مسلمان ، عاقل ، بالغ او فقیه‌النفس وي یعنې پـه طبیعي توګه باید تیز فهمه اوسي پـه عربي لغت باید عالم وي او د کتاب الله په هغې آیتونو بانـدې کوم چې د احکامو پورې تعاق نیسي باید کاملاً احتواء ولري او د حدیثو په علم باندې د متن او سند ، ناسخ او منسوخ له لحاظه باید پوره واقف وي او پر قیاس او د احکامو د استنباط په هکله باید توانائي ولري . البته دا شرائط د مطلق مجتهد شرائط دي کوم چې په ټولو احکامو کې فتوی ورکوي اما په یو حکم کې د مجتهد لپاره فقط د هماغه حکم پورې د مربوطو مسائلو علم او معرفت ضروري دی .

مثالونـه :

۱- د قمار د لوبو پر ممانعت باندې نص وارد شوی . نو اجتهاد ته د هغې پر جواز ورکولو ګنجایش نه شته .

۲- نص پدې باندې وارد شویدی چې بینـه پر مدعي او یمین پر منکر باندې دی نو اجتهاد ته د دې جواز نه شته چې یمین پر مدعي باندې مقرر کړي .

۳- نص پدې باندې وارد شویدی چې کله د متوفی ځامن او یا ورونـه وه نو مورته ئې سدس یعنې د هغه د متروکه مال شپږمه برخه کیږي نو اجتهاد ته د دې جواز نـه شته چې په نوموړي صورت کې د متوفی مورته د هغې له په زیات حق قائل شي .

٤- نص د عمـدي قاتل په قصاص باندې کله چې عاقـل او بالغ وي او د مقتول اولیاء ئې مطالبه وکړي وارد شویدی نو اجتهاد ته د دې ګنجایش نه شته چې د قصاص پـه عدم وجوب اجازه ورکړي .

٥- نص پدې باندې وارد شویدی چې په حقوق عبادو کې د شهادت نصاب دوه سړي یا یو سړی او دوه ښځې دي نـو اجتهـاد تـه پدې خصوص کې کـوم ګنجایش نـه شته ځکه د اجتهاد ګنجایش د نص په عدم موجودیت باندې مقید دی .

څوارلسمه قاعده : (ما ثبت على خلاف القياس فغيره لا يقاس عليه)

ترجمه : «هغه چې خلاف القیاس ثابت شوی وي بل ورباندې نه شي قیاس کیدلی» یعنې که په نص سره د کوم څیز جواز خلاف القیاس شوی وي نو هغه په خپـل هماغه مورد باندې محصور پاتې کیدلی شي او نه روا کیږي چې د هغې حکم هغې ته ورتـه بل څیز باندې په کوم کې چې نص ندی وارد شوی تطبیق شي . پـه بل عبارت که د نصوصو د تتبع او لټون نه دا څرګنده شوه چې شریعت د تصرفاتو په یوې لوعه کې په یوې خاصې مبدأ باندې تکیه کړیـده او بیا نص په داسې حکم بانـدې وارد شو چې هغه د دې مبدأ سره په یو جزء د دې لوعه کې مخالف ؤ نو پدې صورت کې نه روا کیږي چې په دغه جزء باندې د دې نوعې بل جزء قیاس شي د مثال پـه توګه د نصوصو نه څرګنده شویده چې د شریعت مبدأ د معدوم څیـز د بیعې پـه عدم جواز بانـدې بناء ده ولې بیا هم پـه بعضې صورتونو کې د معدوم څیز د بیعې په جواز باندې خاص نصوص وارد شویدي چې د اجواز باید په هماغو صورتونو پورې حصر شي پـه کومو کې چې نصوص وارد شوي دي او نـور پـه هغوی نشي قیاس کیدلی . او د قیاس معنې د یوې مسئلې حمل کول دي پر بلې مسئلې باندې په حکم کې د لوموړو مسئلو د اشتراك له کبله په علت کې .

مثالونـه :

۱- په استصناع باندې د قیاس کولو په اساس ، د څرګندوالي له د مخه دونو د میوو خرڅول جائز نه دي دا ځکه چې استصناع په خاص نص باندې د قیاس پرخلاف ثابته شوې ده نو بل څه پرهغې باندې نشي قیاس کیدلی .

نوټ : استصناع دیته وائي چې یو څوک د اهل صنعتونـه یوکس ته ووائي چې ماته فلانې څیـز پر دومره روپو جوړکه او صانع هغه قبوله کړي نو دا بیعه استصناع بللې شي .

۲- شفعه خلاف القیاس ثابته شویـده ځکه چې دا متضمنه ده ملکیت غوښتنې د یو شخص لره د بل کسې ملکیت لره د جبر د لارې نه پرهغه باندې . او دا په شرعه کې د معروف او پیژندل شوي مبدأ خلاف کار دی . نو دا هیڅا ته جائـز نه ده چې په شفعه بانـدې د قیاس په استناد د شفعې له طریقې نه پرته د بل چا د مال د ملکیت غوښتنه وکړي . لکه څرنګه چې د شفعې د حق د اسقاط په بدل کې عوض هم نشي اخیستل کیدای ځکه چې شفعه مجرد حق دی او د مجرده حقوقو په بدل کې عوض اخیستل جواز نه لري .

۳- که بائع او مشتري د مبیعې او یا ثمنو په اندازه کې سره مخالف شول او دواړه د بینـه ؤ د اقامې څخه هم عاجز پاتې شول نو حکم دا دی چې دواړه به قسم یا دوي او بیعه به فسخه کیدلی شي یعنې مشتري بـه بائع ته مبیعه او مائع به مشتري ته ثمن ورردوي . او د دې حکم ثبوت پـه خاص نص سره د موضوعه مبـدأ پرخلاف شویدی . چې هغه مبدأ دا حکم کوي چې بینه پرمدعي او یمین پر منکر باندې دی . نوکه مؤجر او مستأجر د اجرت په انـدازه کې سره مخالف شول هغه پـه نوموړي حکم بانـدې نشي قیاس کیدلی بلکه د پیژندل شوي مبدأ د حکم لاندې (چې بینه پر مدعي او قسم پر منکر دی) بایـد اجراءات وشي .

پنځلسمه قاعده : (الاجتهاد لا ينقض بمثله)

ترجمه : «اجتهاد پرخپل ورته اجتهاد باندې نشي نقض کیدلی» یعنې که مجتهد پـه یوه مسئله کې اجتهـاد وکـړ او د خپل صحیح اجتهاد پـه حساب او غوښتنه ئې په هغې کې حکم صادر کړ نو د هغه د دې حکم ابطال پر بل اجتهاد باندې نه دی روا ـ برابره خبره چې دوهم اجتهـاد د عین لومړي مجتهد له خوا نـه وي او که د بل مجتهد له طرفه . د دې سبب او وجه داده چې دوهم اجتهاد په قوت کې د لومړي اجتهاد په شانته دی ځکه هر یو اجتهاد بللی شي . بل دا که موږ د یو اجتهاد باطلولو تـه پر بل اجتهـاد باندې اجازه ورکړو نو په هیڅ مسئله کې بـه حکم ثابت او مستقر پاتې نه شي او دا کار بـه لویه ستونزه را منځته کړي بله وجه دا چې د دې مبدأ په قبول باندې اجماع منعقده شویده . لوکه یو مجتهد په کومه مسئله کې حکم وکړ بیا وروسته ده یا بل مجتهد په بله مسئله کې چې لومړي مسئلې ته ئې عین ورته والی درلود پداسې حکم سره اجتهاد ورکړ چې د لومړي اجتهاد سره مخالف ؤ . نو پـه لومړي مسئله کې حکم پرخپـل حال نافذ پاتې کیږي نه باطلیږي . عین همدغه حالت پـه اجتهادي مسائلو کې د قاضي پـه صادر شوي حکم کې مراعات کولی شي که د قاضي حکم د کوم مجتهد د رأیې سره موافق وشو نـو واجبه ده چې د ده حکم معتبر وګڼل شي او لغوه نه شي . د مثال په توګه که قاضي په هغې دعوی کې چې ده تـه وړاندې شویده د امام أبي حنیفه" په رأیه باندې د وقف په عدم لزوم باندې حکم صادرکړ نو د ده دا حکم صحیح دی او لوموړی قضیه کې د امام ابي یوسف او امام ابي محمد" په رأیې بانـدې د عمل کولو په استناد هغه حکم نه شي لغوه کیدلی دا ځکه چې اجتهاد په خپل ورته اجتهاد باندې نه شي ماتیدلی . ولې که ولي الامر په یوه مسئله کې د کوم خاص مجتهد د اجتهـاد په پیروی باندې امر کړی وي نو د هغه خاص اجتهاد پـه خلاف باندې صادر شوی حکم لغوه کیدلی شي اګر نه نوموړی حکم د مجتهـد له خوا صادر شوی وي او یا د مجتهد د رأیې سره برابر صادر شوی وي . پـه همدې ډول که حکم پـه غلطه بناء شو یوې هغه هم لغوه کیدلی شي مثلاً قاضي پداسې حکم سره حکم وکـړي چې هغه د شریعت مخالف او نقیض وي . نو پدې صورت کې کله چې د قاضي حکم شرعي دلیل تـه ندی تکیه شوی د هغې نقضول واجبي او لازمي أمر دی .

مثالونـه :

۱- که قاضي د مفقود شخص د ورکیدو د تاریخ نه څلور کاله وروسته له ده نه د ده د ښځې په تفریق او جلاوالی حکم صادرکړ . نو مناسبه نده چې د ده دا حکم نقض شي ځکه چې د قاضي لوموړی حکم د صحیح اجتهـاد سره موافق صادر شوی دی اګر که هغه د حنفي اجتهاد سره موافق نه دی .

۲- که قاضي د صاحبینو (امام ابو یوسف او امام محمد") پـه رأیې باندې د عمل کولو پـه اساس د وقف په لزوم باندې حکم صادرکړ نو باید دا حکم د امام ابو حنیفه" په رأیې بانـدې د عمل کولو پـه استناد باطل نـه شي ځکه هغه د اجتهـادي قول سره موافق صادر شویدی .

۳- که قاضي د فاسق د شهادت په رد باندې حکم صادر کـړ بیا وروسته فاسق د فسق نـه توبـه وویستله او شهادت ئې ادا کړ نو د هغه دا شهادت بـه شي قبلولی دا ځکه چې د هغه د دغه شهادت قبلول د یو اجتهاد په بل اجتهاد باندې د نقض کولو متضمن دی او دا نه روا کیږي .

٤- که قاضي د یو مجتهد په رأیې باندې حکم صادر کړ هغه ته د خپل حکم ما تـول (پدې دلیـل چې ده د بل مجتهد پـه رأیه باندې کومه چې عدالت تـه زیاته نږدې ده اطلاع حاصله کړې) جائز نه دی . ولې که له دینه وروسته له همدې قبیل نه ده ته بله دعوه

محمد رحیم «خنجر»

د رسول الله صلی الله علیه وسلم جنگی تاکتیک

د جنگ په صورت کی دی داسی موقف اختیا کړای شیچی دښمن یی توقع نلری او نه یی دهغه لپاره څه تیاری نیولی وی ، ناڅاپی حمله کول په جنگ کی تر ټولو زیات څواکمن او تر ډیری مودی اغیز کونکی عامل دی معنوی تاثیری هم ډیر زیات دی او له نفسیاتی لحاظه یی اثر پدی الفاظو کی بیانولی شو ،

چی د دښمن د سپه سالاری فکری قوت بیکاره کوی دیوی بریالی او نه تصور کیدونکی حملی لپاره لاندینی چاری ضروری دی .

۱ - د جنگی ارتیاوو لپاره خپلی ارادی او خپل طاقت پټ ساتل او احتیاط په ډول دخپل طاقت حقیقت هم باید پټ وساتلای شی .

۲ - دیوه لوری نه بل لوری ته په ډیره چټکتیا سره مخه راګرځول د دی لپاره چی په داسی ځای وار وکړای شی چی دښمن ورته متوجه نه وی .

۳ - په سختو لارو تلل او له داسی مشکلو ځایونو تیر یدل چی دښمن یی هیله نه لری .

۴ - دحملی لپاره د داسی وخت ټاکل چی دښمن ته معلوم نه وی .

۵ - په جنگ کی نوی وسله استعمالول چی دښمن یی هیله نه لری یازړه وسله په نوی طریقه سره استعمالول .

۶ - د جنگ کولو لپاره داسی طریقی اختیارول چی څوک ور سره د مخه بلد نه وی .

رسول الله ﷺ چی دغه ټولی چاری خپلی کړی دی او د هغه ﷺ ټولی غزاګانی د دغه ناڅاپی حملو غوره نمونه ګڼلی شوی . مدینه منوره د مسلمانانو مرکز ؤ له پنځه ډوله خلکو ډکه وه ، چی هکی یهودیان ، منافقین ، د قریشو بدوی جاسوسان او دزوم نبطی جاسوسان شامل و ، هره لحظه د مسلمانانو په ناکامو لو کی مصروف وو ، او دښمن ته یی د مسلمانانو ټول خبرو نه رسول خو رسول الله ﷺ د خپلو رازو پټ ساتلو ته زیا ته پاملرنه کوله لکه چی کله به هغوی دکومی غزا اراده کوله په هغی کی به یی (توریه(۱)) کوله . دغه ډول به پورتنیو دښمنانو غلط خبرو نه دښمن ته رسول چی دهمدی له امله دښمنانو فکر ونه نور هم ګډوډشول .

د تبوک له غزا پر ته رسول الله ﷺ تل د جنګ د رازونو پر پټ ساتلو عمل کړی دی دهغه د رازونو د پټ ساتلو د ښکاره کولو په باب یو بهترین مثال هغه دی چی هغوی ﷺ عبدالله بن حجش ته ورکړی و .

رسول الله ﷺ عبدالله بن حجش ته حکم کړی ؤ چی دا خط د دوه ورځو سفر کولو ور وسته خلاص کړ چی کله دی خلاص کړو او په مضمون یی پوه شوی د هغه سره سم پری عمل وکړه .

(۱) توریه داسی خبری ته وا یی چی ظاهری مفهوم یی یو او اصلی مقصد یی بل وی .

رسول الله ﷺ د مکی د فتحی پروخت کی هم خپلی ارادی پټی ، وساتلی حتی چی خپله ګرا نه میرمن حضرت عائشه (رض) او ګران دوست حضرت ابوبکر صدیق(رض) تری هم خبر نه ؤ . د همدغه راز داری له امله رسول الله ﷺ د لس زره کسانو منظم لښکر د مکی د فتحه کولو

لپاره را وسېت او قریشو ته د هغه دلیږ د او حرکت او د رسول الله ﷺ د تصمیم هیڅ پته ونه لګیده تر ڈی چی لښکر مکی ته نژدی ورسید او قریش په وسله ایښو د لو مجبور شول .

د ځای په لحاظ دنا څاپی حملی مثال «دبنی لحیان» غزا ده ، لومړی رسول الله ﷺ د خپل لښکر مخه دشمال په لور کړه چی قریش او بنو لحیان د هغه ﷺ اصلی لیږد او حرکت معلوم نکړای شی ، کله چی دشمال په لور د مسلمانانو د کوچیدو اوازی خپری شوی ، نو رسول الله ﷺ په نا څاپی ډول په بنو لحیان حمله وکړه او دغه ډول یی د ځای پر لحاظ دښمن په مغالطه کی وا چاوه .

دخیبر په غزا کی رسول الله ﷺ درجیع مقام په لور مخکی و لاړ چی د غطفان قبیلی کلیوته نژدی سیمه ده ، له دی وروسته هغه ﷺ دخپل پوځ یو کوچنی ټولی د غطفان په لور ولیږه او دپوځ ډیره برخه یی دخیبر په لور را وګرځوله هغه ﷺ د دغه ډول نقلو حرکت په وسیله لومړی غطفان خلک پدی شک کی وا چول چی دهغه ﷺ دهمدوی لوری ته مخه کړی ده او بله لوری ته ئی دخیبر یهودیان پدی شک یقینی کړل چی دهغه ﷺ مخه د هغوی په لوری ده هغه ﷺ په یوه وخت کی دواړو خوات دښمن په مغالطه کی وا چاوه او دغو دواړو لاسونه یی دیو بل له مرستی لنډ کړل .

دوخت په لحاظ دنا څاپی حملی مثال دبنی قریظه غزا ده ځکه چی رسول الله ﷺ په داسی وخت کی دهغوی په لور کوچ وکړ چی هغوی دا محال دهغه ﷺ دحملی توقع نلرله کله چی دهغوی معنویات او مورال یی بیکاره کړ او خپل فاتحانه اندازیی دجګړی تر پایه په لاس کی وساتـه .

دجګړی په طریقو کی دنا څاپی حملی کولو مثال دا دی چی رسول الله ﷺ دبدر په غزا کی صفو نه جوړ کړی او جنګ یی وکړ تر دی دمخه په جنګی لحاظ قریش یوازی په مغلوبه جنګ پو هیدل . همدا ډول دا حزابو دخندق ، په جنګ کی خندق ایستل دجنګ د طریقی له لحاظه غیر متوقع کارو، د دی له امله چی عرب وګړی تر دی دمخه دمحاصری په وخت په خپل چا پیریال کی له خندق ایستلو سره بلد نه وو ، هغه ﷺ دطایف دمحاصری په وخت له دوه ډوله نویو وسلو دد با به او منجنیق ، نه کارو اخست ، دجنګی طریقو له لحاظه یی غیر متوقع حمله وکړه ، غوره او ډیر پوه سپه سالار هغه دی چی پخپلو ټولو جنګو نو کی یوه نه یوه غیر متوقع حمله سرته ورسوی او رسول الله ﷺ په خپلو ټولو جنګو نوکی داسی کړی دی اود همدی څیز د مسلمانانو په وروستی بری کی ډیره اغیزه لرله .



ذبیح الله «قریشی»

درنگی به پیشگاه میلاد خجسته قافله سالار انبیاء علیهم السلام

یتیمی که نا کرده قرآن درست
کتبخانه چند ملت بشست

آنگاه که انسان در منجلاب شقاوت دست و پامیزد ، و در پرتگاه فنا و تباهی فرومیرفت . در آتش خانمان سوز تعصبات خشک و بی‌محتوی جاهلیت می سوخت . دیوخود خواهی و خود پسندی در آسمان پهناور دلش حکومت میراند. تمیز روز از شب و نور از ظلمت ، سیاه از سفید ، نیک از زشت . . . برایش مشکل بود ، که همه را در یک تراوز بمیزان می‌گرفت .

در آن زمان که انسان در وادی وحشت و بربریت سرگردان بود و زندگی برایش‌چون مرگ.

در آن زمان که از لمعهٔ زرین خورشید و وزش دل آویز نسیم سحر «وحی و نبوت» در سیارهٔ خاکی اثری نمانده بود .

در همه جا دیو سیاه برسر اولاد آدم حکومت میراند . عدالت رخت بسته بود ، و آواز ایثار و خود گذری ، برادری و برابری . . . گوش رنجیدگان و دردمندان و بینوایان را نوازش نمی‌داد . در فضای انسانیت غریو وحشت و کابوس مرگ طنین داشت .

ظلم و تجاوز برده دار بربرده ، حاکم بر محکوم دلها را میلرزانید وگوشها را می‌خراشید. در آن زمان که از انسان و انسانیت خبری‌نبود، دختران معصوم و بی‌گناه بجرم دختر بودن زنده به گور می‌شدند و یا در بیابان های سوزان سرگردان و در سیاه چالهای وحشتناك تا پایان عمر اسیر می‌ماندند :

آنگاه که با خدای واحد القهار ، خدایان بی‌شمار را به پرستش میگرفتند. گروهی عزیر (ع) را ابن الله وگروهی هم عیسی را . و مریم (ع) را در خدایی خدا (ج) شریک می پنداشتند . بهشت را وثیقه میکردند و نجات از آتش جهنم را سند میدادند .

در آن زمان که شرارههای ظلم و بیداد به آسمانها سر کشیده و کاخ بیداد از تاروپود برده‌گان اعمار و به ثریا سر میسایید .

نهال امید و میوه آرزو در سبزه زار خزان زده انسان خشکیده بود . تاریکستان سردوتیره دیرپا شده بود . نه شفق می‌دمید و نه ستارهٔ صبح طالع می‌شد . و سالها به همین منوال می‌گذشت ...

که یک بار دریای خروشان رحمت‌الهی ، بسر انسان جاهلیت‌زده ، درکویرستان سوزان ، کویرداران که سالهای سال چشمه ساران حیات بخش را برکویرنشینان خشکیده بودند جاری شد.

کوکب اقبال و همای سعادت برفراز خانهٔ انسان و انسانیت تا پایان تاریخ آشیانه گرفت .

و نوری فروزان در خانه تاریک و سیاه فام انسان درخشید و تاریک‌ترین زوایای زندگی او را تا ابد روشنائی بخشید که تا پایان تاریخ رهنما و رهکشایش گردید .

در اولین فجر میلاد آن محبوب الهی ، آتشکدهٔ فارس وفارسیان که هزاران سال روشن بود و شعله‌هایش زبانه به آسمان می‌کشید ، خاموش شد .

در آن شب با طلوع خورشید تابان در فراز آسمان انسان ، کنگره‌های قصر ستم آباد کسری میلرزد و چهارده کنگرهش بخاك سیاه یکستان می‌شود .

در آن شب دریاچهٔ ساده فرو میرود ...

ستاره و ماه و پروین تعظیم کنان برزمینیان فرود می‌آیند و لبخند میزنند ...

جریان را از زبان آن پیر مرد شب زنده‌دار بیابان گرد که همان صبح در بازار مکه وارد میشود ، بشنویم : «دی شب مکیان در خواب فرو رفته بودند ، ایکاش می‌دیدند که در آسمان شان ستاره‌ها چه نور افشانی بی‌سابقه و تلالؤ حیرت‌انگیز داشت ...»

آری !

آن شب ، شب میلاد نور بود . محمد ابن عبدالله که هنوز پا به جهان نگذاشته بود از نوازش پدری محروم‌گشت !!!

او یتیمست که بعد ها از مهرمادری هم بی‌نصیب می‌ماند ، ولی هر روزکه از ایام عمر مبارکش می‌گذشت از دامن مادرگرفته تا هنگام رسالت ، در دل مکیان و طایفیان جا می‌گیرد و محبوب قلب‌ها می‌شود !!

بزرگترین مشکلات جامعه را حل می‌کند و از امانت‌ها پاسداری می‌نماید و لقب «امین» را در همان جامعهٔ شرک‌آلود کسب می‌نماید .

آن ذات خجسته که هنوز خلعت نبوت را به تن نکرده بود ، گرسنگی‌ها کشید ، غم و درد و الم‌ها را تحمل کرد ، تا اینکه مهبط پاك و مطهر پیغام خدا شد .

هنگامیکه به عبادت مشغول بود به ادای مسؤولیت بزرگ و خطیری گماشته می‌شود .

«اقرا باسم ربك الذی خلق ، خلق‌الانسان من علق ، اقرا وربك الاکرم، الذی علم‌بالقلم علم الانسان ما لم یعلم .

... این امی ناخوان از آنجا که بر می‌خیزد با بدن لرزان بخانه بر می‌گردد و جریان را به خدیجه[رض] می‌گوید و می‌فرماید مرا بپیچان ...

بار دیگر در حالیکه در لحاف پیچیده است فرمان میرسد : لحاف را از سرت بدور افگن برخیز و برپا شو ، و همه را بسوی خدایت فراخوان که تو رحمت اللعالمین ای !! انسان را بمدارج عالی انسانیت برسان و اخلاقش را تکمیل کن !

او خود نمونهٔ زنده‌یی از قرآن بود ، این حقیقت از گفتهٔ ام المؤمنین عایشه[رض] پیداست زینرو نظر به اکمال فرامین خدا فرمودند :

بعثت لا تمم مکارم الاخلاق .

ای معلم اخلاق !

ای باران رحمت !

ای ناجی بشریت !
ای منجی انسان
ای پیامبر جهان
ای معراج من و ای راهنمای انسان !

تو از همان با مدادی که برای نجات انسان از کشمکش‌های دوران و از انقیاد به خدایان زمان ، بسوی فلاح و رستگاریش چه رنجها بود که نکشیدی و چه ستمهایی بود که ندیدی !

سنگ طفلکان وچوب دیوانگان ... را بجان خریدی تا انسان به قله‌های شامخ انسانیت برسد و وظیفه‌اش را بداند .

محاسره‌های اقوام ات را پذیرفتی ، فراق یاران را کشیدی ، در هجران وطن سوختی . و هزاران زخم زبان و شمشیر را چشیدی تا اخلاق انسان سرگردان در کویرستان‌های سرابزده را به پایهٔ اکمال رسانی ...

و با قبول تمام مشکلات ، راههای پرفراز و نشیب را پیمودی تا بوبکر وعمر وعثمان وعلی و بلال وابوذرها وسلمانها... رضوان‌الله الاجمعین را به جامعه انسانی تقدیم‌داشتی، وفرموده‌ای که: اصحاب من مانند ستارگان اند درمیان شما ، به هرکدام آنها اقتداء نمایید ، راهیاب می‌شوید .

آری !

از طلیعه نقره فام نبوت تا پایان بار عظیم رسالت لحظه‌یی از دعوت و تربیت فرونگذاشتی درین راه چنان سوختی که خدایت گفت : ای پیامبر خود را هلاك می کنی ...

ای مرشدم !

و ای رهنمای انسان ! بعد از رحلتت بار امانتی را که بردوش یارانت گذاشته بودی بوجه احسن و نیکو بر ما رسانیدند ..

قیصر در روم نماند و رستم در فارس !!! گلبانگ رهائی تو از حنجره ملکوتی یاران پاکبازت به آسمانها پیچید و سرتاسر عالم را از دعوت برحقی که تخود می‌خواستی آگاهی بخشید. مدینه‌یی که بدستان مبارک خودت بنایافته بود ، مرکز فرماندهی اکثر نقاط جهان‌گردید.

ولی افسوس و صد افسوس !! هنوز از مجد و بزرگی اسلام عزیز دیری نگذشته بود که بهترین یارانت از دست ستمگران و قلدران که خود را از امتت می‌خواندند ، از پشت خنجر خوردند ...!!

دورهٔ شاهی آغاز شد و سیاه روزی از سرگرفته شد ، زورگویان ستمگر به اریکه قدرت بنام اسلام زیر سایه شمشیر جهاد !! سرهای عزیزان ترا از تن جدا کردند ...

باریختن خون حسین (رض) جگر گوشه ات صفحهٔ دیگری در تاریخ بلاکشیدهٔ انسان گشوده شد ... و به تأسی از خطی که خودت کشیدی وحسین (رض) با خونش از آن پاسداری نمود ، تا امروز و تا صبح رستاخیز سرمشق آزادگان جهان خواهد بود.

برخیز و بنگرای رهنمای ما و ای فرستادهٔ برحق خدا ! که امت تو امروز میلاد مبارك ترا با خون خویش در سنگرهای خونین جهاد جشن می‌گیرند و برای فروزان نگاهداشتن خط سرخ حسین که از خودت آموخته بود ، در کربلای افغانستان چه سان سرفروشی می کنند و جان نثاری ...

دردا ! که امروز باوجود همه شهکاری‌ها و ایثارگریها ، دشمن از آستین ما ، مارانیش‌میزند که دستهای‌گنه خیز مدعیان کاذب اسلام به خون بهترین رهروان پاکباز حسین رنگین است.

بیا وبنگر که امروز باوجود اوج‌گیری انقلاب اسلامی درمیان امتت شراره‌های نفاق و شقاق سرکشیده که رشته‌های اخوت را سوزانیده ، اتحاد و همدلی و همکاری از میان ما رخت بسته است .

اگر با عالم روحانیت دست ما را نگیری در آتش خانمان سوز تعصبات گروهی و منطقوی و لسانی و نژادی خواهیم سوخت .

ای مظهر لطف خدا !

ای شفیع ما !

ما پروانه گانیم که درعشق تو زنده‌ایم و در فراق تو می‌سوزیم ما را تنها نگذارکه ما درد مندانیم . . .



تر سره کړي . اوس فاتح او غالب پوځ دی او له افغانستان نه‌وځي او افغان ولس‌هم تری خوشحاله دی. آیا زه پریږدم چی هغه دا تصور په دنیا کی را پیدا کړی چی د افغان ولس له روسی پوځونو دومره خوشحاله دی‌چی د وتلو په وخت کی د ګلو ګیډی ور کوی . د هغه لاسونه خو زما د ورونو په وینو سره دی . هغه اوس هم زما په خلاف جنګیږی ، هغه نه غواړی چی دغه جنګ دی نور پای ته ورسیږی . هغه دغه جنګ پیل کړی . اوس هم دیته تیار نشو چی د نجیب په حکومت باندی د وسلو مرستی بندی کړی . هغه اوس هم په جنګونو کی برخه اخلی .

هغه اوس هم زما په ملک کی پروت دی . هغه اوس هم دغسی یو حکومت غواړی پاتی شی چی د دوی د وسلو او پوځ په زور زمونږ په ملت باندی تپل شوی وی ، او اوس هم غواړی چی د فاتح او غالب پوځ په حیث ووځی او دا تصور په دنیا کی را پیدا کړی چی دا دی افغانان هم هغوی ته د ګلو ګیډی ورکوی او ډیر خوشحاله او راضی دی .

نه ! زه دا غواړم چی دنیا ته دا هم وښیم چی زما د ملت تصور او احساس د روسانو په مقابل کی څنګه دی . او څومره کرکه او نفرت لری او حتی د وتلو په دوران‌کی هم هغوی په آرام نه پریږدی . د ګولیو باران وربانـدی وی . روسی پوځیان دی دا خاطره هم له ځان سره یوسی چی د وتلو په دوران کی هم د مجاهد ګولی د هغوی له غوږونو سره تیریدلی. دا خاطره دی هم له ځان سره یوسی . ما ددی خاطر حمله کړی . زه یقین لرم چی په روسی پوځونو هر څومره حملی زیاتی شی . همدومره به ژرووځی . ځکه چی هغه زما د جنګ په نتیجه کی وتلو ته مجبور شوی . زما جنګ چی څومره تشدید شی هغه به همدومره ژر وځی . کـه زما جنګ آرام شو نو هغه پاتی کیږی. په دی خاطر ما د جنګ فیصله کړی ده . الحمدلله ټولو مجاهدینو له همدغی فیصلی سره سم پر روسی پوځونو حتی د وتلو په دوران کی حملی کړی . تاسی ته به په یادوی چی له کندهار نه چی وتل له هغوی سره څه وشول ، لاره یی هم بدله کړه خو مجاهدینو آرام پرینښودل. تر هغه ځایه یی تعقیبول چی ترڅو ئی وسه پوره وه.

ښه ډیر تلفات‌یی ورته ورسوه. له‌کندز او بغلان نه چی وتل کیلګی ته را غونډ شول . مجاهدینو په کیلګی باندی حمله وکړه ، دومره ستره حمله چی د جهاد په تاریخ کی سابقه نلری ، ترزرونه زیات روسان د کیلګی په عسکری مرکزکی له منځه ولاړل .

ورونو ! د کندهار د سفر په وخت کی زما په خلاف بی بی سی او صدای امریکا ویل چی ګویا هغه تللی دی او هلته قوماندانان اخلی او دا خبره د تنظیم د یوه نماینده له خولی کوی . عجیبه ده !! دا خبره هغه څوک کوی چی هغه پخپله خرڅ شوی وی . څوک چی پخپله خرڅ شوی وی هغه به د مجاهدینو د قوماندانانو په باب هم دغسی فکر کوی چی کیدای شی . مجاهد چی فقط په خدای یی ځان خرڅ کړی او هغه څوک نشی اخیستی ، د هغه مجاهد پرضد چی څوک دغسی ناروا اوغلط تبلیغات کوی چی پلانی مشر کندهار ته تللی او مجاهدین او قوماندانان اخلی. هغه د ځان په حصه کی هم همدغسی فکر کوی . هغه پخپله روسانو او امریکایانو اخیستی، په دی خاطر زمونږ د مجاهدینو په باب همدغسی خبری کوی، زه یقین لرم چی زمونږ مجاهدین څوک نشی اخیستلای . زما مجاهد د خپلی عقیدی او د خدای لپاره اوچت شوی . هغه خپله یو قطره وینه هم په ټوله دنیا نه ورکوی . په خدای قسم ما چی یو قدم په اخلاص سره د خدای (ج) او جهاد په لاره کی اخیستی . هغه په دی ټول عالم او هستی نه ورکوم. د دی ټولی دنیا په پاچائی یی نه ورکوم. یو قدم چی ما دخدای په لار، کی اخلاص سره اخیستی وی. څوک چی د جهاد په لاره کی په خپل قدر او قیمت پوهیږی . هغه څوک نشی اخیستی .

په هر صورت . . . اوس زمونږ ولس هوښیار دی او هیڅوک یی نه شی دوکه کولای ، هغه خپل دوست او دښمن ښه پیژنی. زه په پای‌کی څه مختصری توصیی لرم او بیا خپلی خبری پای ته رسوم .

زما لومړی توصیه دا ده چی ورونو تاسی خو روسانو او کمونستانو ته ماتی ورکړه او روسان مو دیته اړ کړل چی دافغانستان څخه ووځی خواوس به په یوه بله جبهه کی هم هوښیار اوسی او یوه بله مقابله هم ستاسی په مقابل کی پرته ده . هغه دا چی د مفسدینو او د منافقانو

وروړ حکمتیار د کندهار له قوماندانانو سره

مقابله به کوی ، هغه چی په کمپ کی دی او غواړی چی تا دوکه کړی او بیا به په افغانستان کی قدرت قبضه کړی . د کافر او غیر اسلامی قوتونو سره سازش وکړی او د اسلامی حکومت د راتلو مخه ونیسی او پر افغانستان باندی د خپلی خوښی غیر اسلامی حکومت و تپی . ددی توطئ مخه به نیسی . دا مفسدین او منافقین ته به پیژنی ددی به مقابله کوی، دا به انشاء کوی، دهغوی به تمجید او اکرام نه کوی بلکه مخنیوی او مقابله به ئی کوی دهغه خوا ته به نه ودریږی . هغه به د مشر په حیث نه منی . هغه ته به موقع نه ورکوی ، ولس به متوجه کوی ، د دی منافقینو مخه په دی ترتیب نیولی شی . زه نه وایم چی د هغوی پرضد وسله اوچته کړی، نه ! وسلی ته حاجت نشته. دا په هغه‌نه ارزی چی د هغه په خلاف سری وسله اوچته کړی . صرف دومره وکړه چی د هغه به تقدیر او تمجید نکوی . ځکه پیامبر (علیه السلام) فرمائی چی چا د صاحب بدعت اکرام وکړ ، هغه د دین د مانی په ورانولو کی مرسته وکړه ، پیامبر (علیه السلام) فرمائی چی خوک چی له یوه ظالم سره په یوه لاره ولاړ ، د دی لپاره چی هغه تقویه کړی . په داسی حال کی چی دی پوهیدو چی هغه ظالم دی ، یقیناً چی هغه د اسلام له دایری له ووت . د دغو منافقینو او مفسدینو به ملاتړ نه کوی نه به ئی په کمپ کی د مشر په حیث پیژنی او نه به ئی جبهه کی‌د مشر په حیث ټاکی .

دوهمه توصیه می تاسی ته دا ده چی دلته څه خیریة مؤسسی دی چی د خلکو اخلاق فاسد وی ، تبشیری فعالیتونه کوی . د دغو به په کلکه مخه نیسی او هغه به افشا کوی او مهاجرین به پری خبره وی .

دریمة توصیه می دا ده چی کوشش وکړو چی خپل ټول ژوند د اسلام مطابق کړو ، دود او دستور ، دښمنی او دوستی دا هر څه به د اسلام مطابق وی ، په ټوله معنی به د اسلام دایری ته دا خلیږو . که داسی نه وی نو بیا نه زمونږ جهاد اسلامی دی او نه دا هجرت مو اسلامی هجرت .

وروستی توصیه می دا ده چی دا جنګ به تر هغه وخته پوری روان ساتو چی په افغانستان کی د مجاهدینو په لاس اسلامی حکومت جوړ شی. ترڅو چی په افغانستان کی مجاهدینو په لاس اسلامی حکومت نه وی جوړ شوی . خپله وسله به پر ځمکه نږدو او له سنګرونو نه به نه پورته کیږو . زه په همدی بأندی اکتفا کوم .

ورونو ! دی ټول ودریږی زه څو شعارونه ورکوم او ورونه به هغه له سره بدرګه کړی .

له هغه نه وروسته مجاهد وروړ حکمتیار څو اسلامی شعارونه قرأت‌کړل چی دحضارو له‌خوا په ډیری مینی سره بدرګه شول. حاضرین په داسی حال کی چی په پښو ولاړوو د هغو اسلامی شعارونو او تکبیرونو د جلسی پراخه فضائی په لرزه راوستی وه او جلسی ته ئی یو خاص شان او برم ور ببښلی .

له هغه وروسته جلسه په ځانګړی نظم او نسق سره پای ته ورسید له .

* * *

وړاندی شوه دی کولی شی چی د دوهم مجتهد د رأیی په موجب په هغی مسئله کی خپل حکم صادر کړی .

نوټ : دا خبره باید په غوخښه توګه په یاد وساتـو که ولی الامر قاضیان د یو خاص مجتهد د رأیی په پیروی بالـدی مامور کړی ؤ . او قاضی د هغه مجتهد د رأیی نه پرتـه د بل مجتهد په رأیی باندی حکم وکړ . نو د هغه دا حکم باطل او لغوه ګڼل کیږی .

د لومړی قاعدی نه دوه لاندی مسئلی مستثنی ګیدلی شی .

لومړی : که په قسمت اوویش کی فاحش غبن شوی وی هغه نقض کیدلی شی اګرچـه دا د یو اجتهاد پرخپل بل ورته اجتهاد باندی نقض کول دی ولی که چی په ابتداء کی د هغی د صحت شرط کـوم چی د عدالت تأمین دی فوت شوی دی او د ابتـداء لـه د ویش د عدم صحت سوال عنوان شویـدی بناء دی نقض ته اجازه ورکړل شویده . لکه د قاضی خطاء کله چی د شرط په فوت کیدو څرګنده شی نو د هغه قضاء هم نقض کیږی .

دوهم : که امام د یو څیـز په نسبت مصلحت وګوری بیا وفـات او یا عزل شی که هغه کار د عامه امورو څخه ؤ نو دوهم امام ته د هغی د تغییر حق شتـه . د دی وجه داده چی دا ډول احکام دایمی احکام دی چی د مصلحت سره سم دوران خوری . نو که دوهم امام د هغی د تغییر په هکله مصلحت وګوری او تصمیم ونیسی نو د همغی تصمیم پیروی کیدلی شی .

د تاریخ تفسیر

فضل ولی «ناګار»

د احساس د تال سندره نـه یم ویریم
د رومانو د خوبونـو تریخ تعبـیریم

د ایمان د سوبی خلی جوړومـه — له آمو او هندوکش را خـور بهـیریم
وروستی نسل ته چی پانه پانه درس وی — پـه اجمال کی د هغـه تاریخ تفسیریم .
پـه هجرت چی د طلسم جـال که څیری — نـه غلام د چا د زورا نـه د تزویـریم
هر ګوزارمی پـه تیارو د سپیدو داغ شو — د سحر د آزادی ښکلی تصویـریم
ویر جهان می له جهاده الهام اخلی — مـا ونـه بولی هیڅکله چـی اسیریم
پـه فنا کی می خونـدی ابدیت دی — د بقـا پـه لـوری هڅه او تدبیریم
چی صفونـه ماتوی د خدای (ج) دښمنو — د محکوم پـه خو له کی چغه د تکبـیریم
هیڅ مثال می دی نزدی پیړی کی نشته — زه د خپـلی قربـانی خپلـه نظیریم
لـه بخوایی چـی مظلـوم امت ښکیلـلی — ماتـوونکی د هغـه زاړه زنځـیریم
خر پـړوالی می کمی د سرخـی نـه دی — د عزیـز هیـواد پـه هجر کی زهـیریم

خپلی وینی نـذرانه وړم انقلاب تـه
زه «ناګار» د قربـانی د شپـی شوګیریم

مولوی اخلاص‌الدین «سرخرودی»

د دوو فرضونو ترک کول چې له غسل او اودس څخه عبارت دي

دا یو څرګند حقیقت دی چې د غسل او اودس تأخیرول په داسې شان سره چې لمونځ او جماعت ورڅخه فوت نشي جایزدی د شریعت له نظره اودس کول د ایمان جز ښودل شویدی لکه چې روایت کړی شوی دی چې الوضوء شطرالایمان و مفتاح‌الصلوة یعنی اودس کول د ایمان جز او د لمانځه کلی دی . او له نجاستونو څخه د بدن پاك کوونکی دی څوک چې په اوداسه مړشي شهید مړی‌اوکه څوک په اوداسه ویده شي نو یو آسمانی پرښته ورته له خدای (ج) څخه د مغفرت غوښتنه‌کوي . په اوداسه باندې مداومت او محافظت کول د اسلام طریقه ده په خلاصه بوستان‌کی روایت کړی شوی دی چې کرزین وبره په هغه شپه کی چې مړکیده نو د خپل حرص له‌کبله‌ئی چې په اودس‌کولو درلوده (۸۰) ځلې یې اودس وکړ ځکه چې هغه د یو اودس د په بل اودس‌کولو باندې حریص وو دا حرص هم له دی‌کبله ورته پیدا شوی چې حضرت انس (رض) ویلی دی چې‌که ملک‌الموت درباندی راغی او تا اودس درلوده نو د شهادت کلمه ورڅخه نه هیریږي .

همدارنګه په بوستان کی راغلی دی چې ستاسی بهترین عمل‌لمونځ دی په اوداسه باندې مداومت او محافظت نه کوی مګر مؤمن سړی او له ځینو نورو خلکو څخه ویل شویدی چې څوک په اوداسه باندې مداومت‌کوی نو خدای (ج) د هغه عزت او اکرام په اوه (۷) خصلتونو سره کوی :

۱- د ملائکو رغبت د هغه له صحبت سره پیدا کوی .

۲- قلم به همیشه د هغه د ثواب د لیکلو له‌کبله لوند وی .

۳- د هغه ټول اعضاء او جوارح به تسبیح ووائی..

٤- تکبیر اولی به له هغه څوک فوت نشی.

٥- کله چې ویده شي خدای تعالی په یو ملک مبعوث‌کړی چې د ثقلینو له شر څخه هغه وساتی .

٦- په هغه باندې به الله تعالی د ځنکیدن سکرات او تکلیفونه آسانه کړی .

٧- ترڅوچې په اوداسه وی د خدای‌تعالی به په امان کی وی .

- د جماعت ترک کول -

د احنافو په قوی او معتبر قول جماعت واجب ښودل شوی دی . او د هغوی په بل قول کی سنت مؤکد چې د واجب سره سما به ښودل شوی دی ، په «درر» کی راغلی دی چې جماعت سنت مؤکد دی . او دا هم ویل شویدی چې جماعت د سړو لپاره فرض دی په کنزکی په قطعی توګه سره په دې جزم شویدی چې جماعت سنت مؤکد دی . او دا په اکثرو کتابونو کی مشهوره هم ده .

په مجمع‌الفتاوی کی راغلی دی چې جماعت مستحب دی . خوصحیحه خبره داده چه جماعت سنت مؤکد دی . چې د هغه ترک‌کول بی‌له شرعی عذره روانه دی .

مثلاً سخته تیاره ، باران ، مرض او یا د دښمن ویره موجوده شی او سړی په خپل ځان یا مال وویریږی ، یا له نورو وحشیانو څخه د ځان ساتنې په منظور هغه ترک‌کړی . یا د دائن اوسلطان ویره وی، یا د ملګرو د تلو ویره وی. یا د ناروغ سلطان په خدمت کی بوخت وی . او همدارنګه که دوډی تیاره شی خو دوډی ته دده ډیره شوق او اشتها راغلی وی

په ملتقط کی راغلی دی چې جماعت واجب دی . که د یو ښار خلک هغه ترک‌کړی امام او پاچا ته جایز دی چې ترهغه پوری له دوئ سره قتال او جګړه وکړی ترڅو چې توبه وباسی . په قاضی شرح‌المصابیح کی راغلی دی چې په دې برخه کی د علماوو اقوال سره مختلف دی .

د شوافعو د نصوصو له ظاهرڅخه څرګندیږی چې جماعت له‌کفائی فرایضو څخه دی . او دا د امام شافعی د اکثرو اصحابو او ملګرونظریه هم ده اما د نورو مذاهبو په نزد جماعت سنت دی او فرض نه دی چې دا د امام ابوحنیفه او امام مالک (رح) مذهب هم دی .

امام احمد او داؤد ظاهری ویلی دی چې جماعت عین فرض دی خو ځینو نوروظاهریانو د هغه په وجوب حکم‌کړی دی .

امام منذری ویلی دی چې د هغوکسانو له جملی څخه چې د جماعت په عین فرضیت باندې حکم کړی له اصحابانو څخه ابن مسعود ، ابو موسی اشعری رضی‌الله عنهم دی او له غیر اصحابو څخه احمد بن حنبل ، عطا او ابوثور دئ دوی وائی دا ځکه چې الله تعالی فرمایلی دی چې وارکعوا مع‌الراکعین پاك خدای (ج) په دغه مبارک آیت کی د رکوع‌کوونکو سره د رکوع‌کولو امر کړی دی . نو بنا پرهغه قول دی چې جماعت‌ئی عین فرض‌ګڼلی دی .

د هغه شخص لمونځ نه‌کیږی چې د قدرت درلودلو سره سره ځان ته په انفرادی شکل سره لمونځ‌کوی ، او همدارنګه لکه چې له طحاوی اوکرخی څخه نقل‌کړی شویدی د جماعت په کفائی فرض‌ګڼلو سره د ځان ته لمونځ‌کوونکی لمونځ نه‌کیږی .

که د یوکلی اوښار ټول خلک په جمعی سره لمونځ ترک کړل او ټولو خلکو ځانته ځانته لمونځونه‌کول نو د هغولمونځونه بالکل روانه دی اوکه ځینو خلکو جماعت وکړل نو د پاتی‌کسانو لمونځونه کیږی .

او بنا پرهغه قول چې جماعت سنت مؤکد ګڼل شویدئی .

که چې د یوښار یا یوکلی خلک په جماعت سره لمونځ ترک‌کړی که څه هم هر یو ځانته ځانته لمونځونه وکړی ، خو امام او پاچا ته

لازمه ده چی دغه خلکو ته په جماعت سره لمونځ کولو ته دعوت او بلنه ورکړی . که هغوی له جماعت کولو څخه انکار وکړی نو سلطان ته جواز پیدا کیږی چی له هغو سره مقاتله او جګړه وکړی . څکه چی لمونځ آذان او اقامت د دین له ستر و شعایرو څخه ګڼل کیږی .

اما د علماوو نظریی د مسواك ترک کولو په برخه کی سره مختلفی دی .

لکه چی په حاشیه کی راغلی دی .

همدارنګه له «الغایه» څخه نقل شویدی چی زمونږ عام علماء پردی دی چی جماعت واجب دی . ځینو خلکو جماعت په سنت موکد سره نوموړ کړی دی . چی دا دواړه په معنی کی سره برابر دی د سنتو څخه مطلب واجب دی . او هغه شی چی له عتابیه څخه روایت شوی دی هغه هم همدا موضوع تایید وی .

او د جماعت نوموړ کول په سنتو د دی لپاره سویدی چی د سنتو په وسیله د وجوب مرحلی ته رسیدلی دی . بدایع وائی چی په احرارو بالغانو ، عاقلانو او هغو کسانو چی قدرت پیدا کړی واجب دی .

چی همدغه حبر د محیط کتاب هم تایید کړیدی چی جماعت سنت موکد دی او نه ئی پرېښودل او ماضی تریعت دی .

او د هیچا لپاره د هغه ترک کول روانه دی مګر په هغه صورت کی چی یو عذر موجود شی که د یو ښار خلک جماعت ترک کړی نو په دی باندی مامور کیږی که ئی اطاعت وکړ ښه ترینه او که نه نو د هغو سره مقاتله او جګړه روا ده .

بیا دا هم ویل شوی دی چی د سنتو په ترک کولو باندی مقاتله روانه ده زه وایم چی په دی برخه کی نظر په څرګند ډول موجود ده چی له تیر بحث څخه څرګندیږی .

په قاضی خان کی راغلی دی : چا چی په جماعت سره لمونځ ترک کړل او هغه عظیم ونه ګڼل نو عدالت ئی باطلیږی . په خلاصه کی راغلی دی چی د هغه چا شهادت نه قبلیږی چی لمونځ په جماعت سره ترک کړی مګر په تأویل سره .

له اعتبار څخه ذکر شوی دی چی لا تقبل شهادة تارك الجمعة والجماعة ثلاث مرات . یعنی د هغه چا شهادت نه قبلیږی چی دری جمعی یا جماعت ترک کړی .

خصاف ویلی دی چی که یوه ځلی هم ترک کړی بی له عذره د هغه شهادت نه منل کیږی . د دارقطنی د تخریج پربنا په جامع کی راغلی دی چی (لا صلوة لجارالمسجد الا فی المسجد) یعنی د جومات د ګاونډی لمونځ نه کیږی مګر په جومات کی کیږی .

د جماعت د وجوب پلویانو د حدیث په ظاهر باندی احتجاج کړی او د سنت پلویانو دا حدیث په نفی د کمال باندی حملوی . او دا هم وارد شویدی چی دا د صفت په حذفولو سره شویدی او دا جایز نه دی او د دی ځواب په دی توګه ورکړشویدی چی دا د مضاف د تقدیر په ارادی سره شویدی . په دی معنی سره چی لمونځ کامله نه کیږی او نه پوهیدل کیږی چی د حقیقت د حزفولو جواز داسی دی .

لکه چی ویل شویدی چی تاسی هیڅ شی نه یاست یعنی نافع او ګټور نه یاست . او په اهل وجوب باندی وارد شویدی چی نفی داعیان یا نفی د اجزاء ده او یا نفی د کمال او اذا جاء الاحتمال بطل الاستدلال یعنی کله چی احتمال راشی نو استدلال ساقطیږی ، او دا همدارنګه لکه چی تاسی ویلی څنګه چی نصوص په ظواهرو باندی محول کیږی او ترڅو چی حقیقت متعذره شوی نه وی نو مجاز ته صیرورت نه روا کیږی او په حدت باندی اشکال راځی چی د ضعف نه وضع نه محمول شی او دا هم په دی دفع کړی شوی دی چی د حدیث راویان د اهل حق او شوافعو په نزد له ثقاتو څخه دی . بیا هم ویل شوی دی چی دغه حدیث فی الجمله له حضرت علی رض څخه ماثور دی ، او د هغه له شواهدو څخه د شیخینو حدیث دی چی وائی من سمع النداء فلم یجب فلاصلوة له الا من عذر یعنی چا چی اذان واوریده د هغه ځانته لمونځ نه کیږی مګر که څه عذر موجود نه وی همدا راز په یو صحیح حدیث کی وارد شوی دی چی لقد هممت ان آمر بحطب فیحطب ثم آمر بالصلوة فیوذن لها ثم امر رجلا فیؤم الناس ثم اخالف الی رجال لایشهدون الصلوة فاحرق علیهم بیوتهم یعنی ... تحقیق ... په خلکو نه امر وکړم

ترڅو لرګی راوړی لرګی راوړل شی بیا د لمانځه د ادا کولو امر وکړم د لمانځه اذان وشی بیا خلکو ته امر وکړم چی لمونځ وکړی او یو سړی د دوی امامت وکړی بیا زه لاړ شم له هغو کسانو سره مخاصمه او محاربه وکړم چی لمانځه ته نه حاضریږی او په ددوی باندی دوی کورونه وسوزوم . د نسائی له حدیث څخه څرګندیږی چی چا چی اذان واوریده او کوم عذرهم موجود نه وو چی هغه د هغه له متابعت څخه منع کړی .

نو د هغه لمونځ نه قبلیږی . له تبة ابی اللیث او بیا له مجاهد څخه روایت دی چی حضرت ابن عباس ته یو سړی راغی او هغه ته ئی وویل چی د هغه سړی په باره کی څه وائی چی لمونځونه کوی او د ورځی روژه نیسی لیکن جماعتونو او جمعی لمونځ ته نه حاضریږی. او په همدغه حال کی مړشی حضرت ابن عباس وویل چی هغه دوزخ ته ځی د یوی میاشتی په موده کی پوښتونکی همدا پوښتنه کاوه خو هغه همدغه ځواب ورکاوه چی هو فی النار .

له پورتنی راوی څخه روایت شویدی چی د حاتم الاصم ځینو ملګرو او دوستانو هغه ته جماعت د ترک کیدلو له کبله تعزیت ویل حاتم د ژړا په حال کی وویل چی که چیری زما یو ځوی مړ شوی وای نو د بلخ نیمائی خلکو ما ته تعزیت ویل او اوس چی زما نه جماعت فوت شویدی ما ته پرته زما له حپلو ملګرو او دوستانو هیچا هم تعزیت ونه ویل حال دا چی که زما دواړه ځامن مړه شوی وای نو ما ته د یوه لمونځ او جماعت د ترک کیدو نه آسانه وه .

د شرعه په شرح کی راغلی دی چی سلف به خپلو نفسونو ته دری ورځی تعزیت ویل کله به چی ورځخه تکبیراولی فوت کیده او کله به چی ورڅخه د جماعت لمونځ ترک شو نو یوه هفته به خپل ځانونو ته تعزیت ویل .

ـ د لمانځه د ارکانو د تعدیل ترک کول ـ

د تعدیل ارکان ادنا ترینه اندازه د یو تسبیح په اندازه سره په رکوع سجده قومه او جلسه کی د جوارحو او اعضاوو سکوت او آرامتیا ته وائی چی البته دغه تعدیل ارکان د امام ابو حنیفه او امام محمد رح په نزد واجب او د امام یوسف صاحب په نزد فرض دی . او د ... د تعدیل ارکان مراعات

کول پـه رکوع سجده قومه او جلسه کی بایـد وشی چی دغه فیصله حلبی هم ثواب‌گڼلی دی. چی د هغه* په ترک کولو سره لمونځ باطلیږی. لکه چی پـه درر او ملتقی الا بحر کی له عینی څخه نقل شویدی لیکن په شرح‌المجمع کی ویل شوی دی چی تعـدیل ارکان د امـام ابوحنیفه او امام محمد" پـه نزد لکه چی کرخـی ویلی دی . رکوع او سجده کی واجب او پـه قومه او جلسه کی سنت دی او د جرجانی په روایت سره تعدیل ارکان پـه څلورو وارو ځایـونو کی سنت دی .

پـه درالمستقی کی راغـلی دی چی مشهوره داده چی واجب د فرض مکمل او سنت د واجب مکمل دی .

له هشام څخه روایت دی چـی امام محمد د امام یوسف سره دی څکه چی د هغه د خپلی خـبری څخه څرگندیـږی چـی وائی زه د هغه چا د لمونځ په نه کیدلو ویریږم چی د رکوع او سجدی د تعـدیل ارکان ترک کـوڼکی وی . له حلبی او همدارنگه له امام ابوحنیفه" څخه روایت دی او ظهیریـه کی راغلی دی چی من ترک الاعتدال فی‌الرکوع والسجود یلزمه الاعادة یعنی هغه څوک چـی پـــه رکوع او سجده کی تعدیل ارکان ترک کـړی وربانـــدی اعـاده لازمیږی . او د هغه فرض لمونځ دوهم لمونځ دی نه اول له ابن همام څخه روایت دی چی

دوهم لمونځ د لومړنی لمونځ جبیره‌کوڼکی دی لکه چی دا د هر هغه لمونځ حکم دی چی پـه کراهت تحریمی سره ادا شوی وی د کتاب مصنف

د رکوع او سجدی د طمانیت په باره ی ویلی دی چی د یارانو څخه دری روایتونه نقل شوی دی چی صحیح‌ترین ئی وجوب دی او وروسته سنت دی چی په هغه کی احتمال دکمال د رکنیت موجـود دی همدارنگه د قومی او جلسی پـــه طمانیت کی له هغوی څخه دوه روایتونـه شوی وی ، چـی مشـهورترین ئی سنت دی او بیا وجـوب او له مذاهبو څخه صحیح‌ترین روایت د څلورو وارو وجوب دی .

که څوک دغه طمانیـــه قصداً ترک کـړی گناهکاریږی . او د لمانځه اعاده لازمیږی . او که سهواً شوی وی نو سجده سهوه لازمیږی.

او پـــه دی برخـــه کی زیـات احادیث وارد شوی دی ، لکه حدیث لا تجزی صلوة لا یقیم الرجل فیهـا ظهره فی الرکوع والسجود ، یعنی د هغه سړی لمونځ نـه کیږی چی خپل شا په رکوع او سجده کی نه برابروی .

او لکه حدیث ارجع فصل فانك لم تصل .

یعنی لاړ شه بیرته وگرځیږه له سره لمونځ وکړه تا لمونځ ونـه کړ او حضرت رسول الله ﷺ دا خبره هغه چـا ته کړی وو چی خپـل لمونځ آسانـه او بی‌تکلفـه ادا کـړی وو او

د تعدیل ارکان مراعات ئی نه ؤ کړی ، او لکه حدیث د لومات هذا علی حالته هذه مات علی غیر ملة محمد ﷺ) یعنی که دغـه سړی پـه دی خپل موجـوده حالت باندی مړشی نو په غیر د محمد ﷺ د مات څخه مړ کیږی . د خدای رسول ﷺ دا خبره هغه چا ته کړی وو چی رکوع‌ئی په کامله توگه نـه ادا کاوه او سجدی ته بـه ډیر زربښکته‌کیده او لکه حدیث د لومت مت علی غیر سنة یعنی که غواړی چی

د غیرسنت په طریقه مړشی نو مړدی شی په بل روایت کی راغلی دی چی لومت مت علی غیر الفطرة التـی فطر الله تعالی محمداً علیه الصلوة والسلام علیها یعنی که مړ کیږی مړدی شی په غـیر د هغه فطرت چی پیدا کړی دی په هغه باندی الله تعالی حضرت محمد ﷺ .

او لکه حدیث د سوال د سرقت هغه چـی له لمانځه نه سرقت کوی .

پـه دی ترتیب سره چی د هغه رکوع او سجده نه پوره کوی .

او لکه حدیث د لا صلوة لمن لا یقیم صلبه فی‌الرکوع والسجود بان یترك القومة والجلسة.

یعنی د هغه چا لمونځ نـه کیږی چی خپل شا په رکوع او سجده‌کی نه برابروی یعنی قومه او جلسه ترک کوی .

والسلام

ورور حکمتیار د کنړ میشتدنه د

راپورنی وتو په حال کی ـ ـ ـ

د دين احياء او تجديد

ژباړن : محمد نعيم «تالب»

د اسلام او جاهليت تر منځ فکري او تاريخي جګړه:

د مجد دينو ضرورت : د دريو واړو جاهليتو نو لـه حملي او يـر غل نـه د اسلام بچ ساتلو او بيا ځلولو دنده هغـه کار دی چی د هغـه لپاره د مجددينو ضرورت را منځ ته کيږی کـه څـه هم دا ګمان به سيی نوی چی ګوا ګی د جاهليت پدی سرکشی کی اسلام بيخی ختم شوی او جاهليت له يوی مخی غلبه پيدا کړی وه واقعيت داده چی کوم قومونه د اسلام نه متأثر شوی وو او يا وروسته‌متاثر شوو د هغو په ژونـد کی د اسلام اصلاحی اثـر ليږيـا ډير هـميشه موجود و ، دا د اسلام اثـرو چی لوی لوی جبار او غير مسئول پادشاهـان هم کـه کله د خدای له ويری لړزيدو او د ريښتنـوالی او انصـاف لاره يی اختياروله ، دا د اسلام له کبله و چی د پادشاهی په تور تاريخ کی ځای ځای د نيکی اوغوره اخلاقو ځلاپه نظر راځی ، دا د اسلام برکت و چی له خدای سره د سيالی خوښونکو پادشاهانو په څنګ اونژدی اطراف کی هم ډير متقی ، عادل اوانصاف لرونکی انسانـان پيدا شوو او هغو پادشاهانو د شاهی اختيـار در لودلـو د امکان تـر حده مسئولانه حکومت وکړ .

همدارنګه د امـارت او ريـاست دفترونو ، د فلسفـی او حکمت لاسو ، د تجارت او صنعت کار ځايونو ، ګوښـګی او تجريد خانقاوو او د ژوند نورو اړخونو تـه هم ليږيـا ډير اسلام خپل تاثير رسولی دی او عـامو خلکـو دننه يی د جاهليت د خندونو سره سره د عقيدی اخلاقو اومعاشری د اصلاحی او انسدادی دواړو اړخونو نه خپل نفوذ جاری ساتلی چی د دی وجی نـه د مسلمانـو قومونـو د اخلاقو معيـار د غـير مسلمو قومـونو پـه نسبت ډير لـوړ پاتـه شوی .

پدی برسيـره هره زمانـه کی داسی کسان پيدا شوی چی د اسلام نه په پيروی ثابت او اسلامی علم او عملی خپل ژوند ګرزولی دی خو کـوم هدف او مقصد چی د انبياوو د بعثت و د هغه لپاره دا دواړه شيونه کافی نه وو، نه دا کافی و چی د قدرت واګی د جاهليت لاس کی ولی او اسلام دد وهم قوت په حيث کار وکړی او نه دا کافی وچی څه کسان دلته او څه هلته په محدوده ساحه او ځانګړی ژوند کی اسلام پيـدا کـړی او پـه پراخ تـولنيز ژوند کی اسلام او جاهليت پر مرکب ډول يوځای خپور شی، لدی کبله دين ته په هر پړاوکی د داسی تون ، ليږخاصو ډلـواو ادارو ضرورت و چی د ژوند ګډوډ پر مخ تګ بدل اوبيرته يی د اسلام لورته را وګرزوی .

د يوه حديث تشريح ! پدی هلکـه چی د مخبد صـادق عليه الصلوة والسلام نه په کوم حديث کی يادونـه شوی د ابوهريرة رضی الله عنه روايت دی چی :

«ان الله يبعث لهذه الامة عـلى رأس كل مـأة سنة من يجددلها دينها» .

يعنی د هری پيړی پـه سرکی ددی امت لپاره خدای(ج) داسی کسان پيدا کـوی چی د دوی لپـاره دين تازه کړی .

خود دی حديث نه ځينی خلکـو د تجديد او مجددينـو بيخی غلط مفهوم اخيستی ، هغـوی د هر سلوکا لـو د پيل نه د پيړی اول او آخير حساب کړی پدی اساس يی هڅه کړی څو د اسلام پـه تير تاريخ کی څـو داسی کسان پـه نـظر ورشی چی د يوی يوی پـيړی په پيل کی پيـدا شوی او يامـړ شوی او د دين تجديد کاريی هم کړی وی او بيا هغه د مجددينو په نوم و نوموی ، پداسی حال کی چی د راس معنا اول ندی .

د کـومی پـيړی په سرکی د يـوه فرد او يـا ډلی پـيدا کيدلو په څرګند ډول دا مـطلب دی چی د خپـل وخت په علومو ، افکار او عمل باندی څرګند تاثير ولری او د «من» تـوری په عـربی ژبه کی د يـوه او ډيرو دواړو لپاره استعماليږی لدی کبله د من له توری نه يو فرد هم مراد کيدای شی او ډير کسان هم آن تردی چی پوره پوره اداری او ډلی هـم مراد کيـدای شی ، رسـول عليـه السلام چی کوم خبر ورکړی مطب يی دادی چی انشاء الله

د اسلامي تاريخ يوه پيړى به داسې تيره نشي چې هغه د داسې خلكونه خالي وي چې د جاهليت د طوفان په مقابل كې پورته شي او اسلام په اصلي رنګ كې د خپلې اصلي روح سره سره د تازه كولو كوشش او هڅه كوي

ضروري نده چې د يوى پيړى مجدديو فردوى بلكې په يوه پيړى كې ګڼ كسان او ډلې هم داد نده سرته رسولى شي ، د اهم ضروري ندى چې د نړيوال اسلام لپاره يو مجددوى بلكې يو وخت كې ګڼو ځايونو كې ډيرو كسان د دين د تجديد لپاره هڅې كولاى شي او د اهم ضروري ندى چې پدى هكله د كوم فرد په يوه خدمت كولو هغه ته ضرور د مجدد لقب وركړاى شي دا لقب يوازې هغو كسانو ته وركولاى شي چې د دين د تجديد لپاره يې ډير لوى لوى او ځرګند كار ونه كړي وي .

د تجديد د كار څرنګوالى :

مخكې له دينه چې د امت د مجددينو د ندى وڅيړو ځكار دى اول خپله د تجديد دنده نه وپيژنو .

تجدد او تجديد :

خلك په عمومي ډول د تجدد او تجديد تر منځ فرق نكوى او په ډيره سادګى سره متجدد (چې ځان ته مجدد ويل غواړى) ته مجددو ايى ، د هغو دا ګمان دى چې، سړى چې نوى لاره را منځ ته كړى او په هغې په تندى سره تګ پيل كړى هغه مجدد وى په خاص ډول كوم كسان چې مسلمان ملت د تنزل په حال كې وينې او هڅه كوى هغه د دنيوى حيث لوړى درجې ته ورسوي او د زماني پر مخ تللي جاهليت سره په صلح كولو ، د اسلام او كفريو نوى ګډود مخلوط جوړوى يا يوازې د اسلام نوم ورته غوره وى او نور ټول ملت د جاهليت په رنګ رنګوى هغه ته د مجدد خطاب وركول په داسې حال كې چې هغه مجدد نه بلكې متجدد (ځانته خپله دمجدد لقب غوښتونكى)، او د هغه كار تجديد نه بلكې تجدد دى ، د تجديد د نده د دينه بيخي مخالفه ده ، له جاهليت سره د صلحې صورتونه را منځ ته كول تجديد ندى او نه د اسلام او جاهليت يوه نوى تركيبى شكل ته تجديد ويل كيږى ، په اصل كې د تجديدكاردادى چې اسلام دجاهليت د ټولو اجزاؤنه چاڼ او بيل كړاى شي ، تر يوه حده د هغه په سوچه شكل اوصورت ، تازه كولو او پر مخ بيولو كې هڅه وكړى مجدد د جاهليت مقابله كې سخت مخالف او له جاهليت سره صلحه په هيڅ ډول هيڅ وخت كې نه منى او په اسلام كې د جاهليت د يوه واړه خبر د منلو پلوى هم نوى .

د مجدد پيژندنه :

مجددد نبي نوى خو په خپل مزاج او استعداد كې نبوت ته نژدى ، د صاف او ستره فكر څښتن ، نظر يې حقيقت ته زر رسيدونكى ، د هر راز كوږ والى نه پاك ، د سمې دين لرونكى ، د افراط او تفريط نه په ډډه او د توسط اوعتدال مستقيمه لار وينى ، د توازن ساتلو ځانګړى قابليت لرى ، د خپل محيط او له اوږده وخت نه را پيدا شوو تعصبونو نه دا راز فكر ، د زماني له ناوړو سره د مقابلې توازن لرونكى ، د قيادت او لارښوونى صلاحيت د معمول خلاف د اجتهاد او نوى تعمير اهليت او له دى ټولو سره په اسلام كې پوره د سينى پر اخوالى ، د فكر ، فهم او شعور له نظره پوره مسلمان ، په باريكو ساتاوكى د اسلام او جاهليت تر منځ تميز كوونكى ، اوږدو وختونونه داسلام د كوم پټ كړ شوى اړخ تشريح او د هغه څرګندول هغه ځانګړ تياوى دى چې د هغو نه پرته څوك مجددكيدلاى نشي او دا هغه شيونه دى چې په پوره او كامله توګه يوازې نبي كې موجود وى .

د مجدد او نبي توپير :

هغه ځانګرتيا چې نبي د مجدد نه بيلوى دادى چې نبي د خپل مسئوليت د سرته رسولو لپاره د تشريعي امر په اساس مامور شوى وى ، د خپل ماموريت په هلكه علم لرى وحى ورته راځي د خپل نبوت د دعوى نه د خپلې د ندى پيل كوى ، خلك خپل لورته دعوتوى او دده د دعوت په منلو او نه منلو پورى د خلكو د مسلمان كيدلو او كافر كيدلو امر تړون لرى ، ددى په خلاف مجدد ته ددى ټولو نه يو حيثيت هم نوى په برخه د هغه مأموريت تشريعي نه بلكې تكويني بنه لرى اكثر د خپل ځان د مجدد والى هم نلرى ، د مړينى وروسته يې د كړو وړونه خلكو ته د مجدد والى پوهه ترلاسه كيږى ، ورته الهام كيدل ضرورى خبره نده كه الهام ورته كيږى د اهم ضرورى ندى چې د خپل الهام په هكله علم ولرى ، د كومى دعوى نه د خپل كار پيل نكوى او نه يې حق لرى

همداغلت دي‌چې‌په باندې د ایمان لرلو اویانه لرلو مسئله مربوط نه ده، د ده د وخت ټول‌غوره او مصلح کسان ورو ورو دده په شاو خوا را ټولیږي یوازې هغه کسان ځان ورنه بیلوي چې طبیعت کې یې څه خرابي موجوده وي خبو په هر صورت د ایمان لپاره دده منل شرط نوی(۱) د دې ټولو بیلګو سره مجدد داسې کار کوي چې د نبي د کار نوعیت لري .

د تجدید د لاره :

د تجدید د دندې ګنې ځانګې لاندې ډول دي :

۱- د خپل محیط سپی تشخیص : د حالاتو د پوره‌ځارنی توان لري پدې پوهیږي چې جاهلیت کومو کومو ځایونو کې‌سرایت کړی ، د کومو لارونه راغلی ، ریښې کوم کوم ځای کې دي او ترکومې اندازې خپر شوی او اسلام اوس په کوم حال کې قرار لري .

